په بله وینا، طبری هماغه د« نوتیاغوبنتونکی نظر» خبره کوی ، چې انگلز په خپل وروستی لیک کې بلوبن اواسمیدت ته وکړه ، اوپه یوه جمله کې دواقعیت د«رنگارنگیو» او« بې پایه رازرازتیاوو» په انځورنې سره یې دتاریخی ماتریالیزم پرقالبواو« قوانینو» یخې اوبه تویې کړې ، اوخه یې چې وریشلې و ، خس وس یې کړل . دطبري دنړی لیدواوخوځښتوپرتلنه دایران دتاریخ په باب دشوروی مورخینوله آثاروسره چې هرڅه داسانی اوسرسری فکرکونې پ قالب کې راولې ، ددې دوولیدونوتوپیرپه ډاگه بنې . که هرڅوپه وروستی تحلیل کې له حزبی جزم اندیشی (تعصب) سره دآزاد خیاله گرایش تضادد« جزمیت » په گټه حل شوی ، اوداسلامی اوایرانی متفکرانو اوخوځښتوپه باب دطبری پرقضاوتوبېی خپله تاپه وهلې ؛ خوکله چې طبری کابوموم« آزادخیالی » یې پر« مکتبي جزمیت » بریالی کیږی . اوداسې قضاوتونه څرگندوی چې په هیڅ توگه دمارکسیزم په وچ مادی اوالحادی چوکاټ کې نه ځایږي .

پر« انسان گرایی » زیات ټینگاریې (چې دمارکس اوانگلز دآثاروپرتوله څلویست توکیزه مجموعه کې تری یوازې یوځل دوه هسې یادونه شان شوی .) پرمعنوی اوعرفانی ابعادوگروهیدنه (په تیره دمولوی ، خیام ، حافظ اوشیخ اشراق په څیرنه کې ، زیاتره دیوه هومانیستي نئومارکسیزم انځور (تصویر) په نښه کوی .



دجهاد مشردجهادپه مورچل کې

د اسلام دښمنه ځواکونه د افغانستان له اسلامي انقلاب څخه ویره لري

"میا" آروال"

روس اوامریکا نه غواړي چې په افغانستان کې یواسلامي حکومت جوړشي
دافغانستان راتلونکی اسلامي حکومت به دختیځ اولویدیځ زبرځواکونوته سترخنډوي
:

کله چې په لومړي ځل افغان ځوان مسلمان کول پخپل لرغوني اوتاریخي هیوادګران افغانستان کې داسلام دسپېڅلي دین دتیرپرتم دبیا راژوندي کولواوپخپل پلرني هیوادکې دیوه اسلامي حکومت دراوستلواوجوړولوهوډوکړ اوپه همدغې هیلې یې دلوی اومهربان خدای(ج) په نوم دعمل ډګرته راودانګل نودمخه تردې چې زموږدغوځوانو مبارزینو لیکې سره پیاوړې اوغښتلې شي په ټوله نړۍ کې اسلامي ضدډلوټپلوپه تیره بیا دختیځ اولویدیځ زبرځواکونو هڅه وکړه چې زموږپیل شوی خوځښت په ټپه ودروي .
اسلامي ضدټولنو، حکومتونواوپه تیره بیـــــــــاکمـــــــــونیستـــــــــی ملحدورژیمونواوډلوټپلودافغانستان دتیرو پرتمینودوراوداسلام په لاره کې دافغان مسلمانو وګړودسرښندنو په مطالعې سره داخبره ښه لیدله کتله چې که په افغانستان کې یوځل بیا دشلمې پیړۍ په بهیر اومدرنه عصري نړۍ کې ځوان افغانان په پښوودریږي اودهیواد سیاسي واکمنۍ په لاس ورشي او دلته دیوه اسلامي حکومت دبنسټ دبره کیښودل شي نودابه هرومرو دټولې نړۍ اسلامي

ضد ډلــوټپلـــو او پـــه تیـــره بیـــا دملحدوکمونستانو شیطاني مزدورانو ته سختې ماتې ورکړي او یوځل بیا به په نړۍ کې اسلامي جهاداومحمدي (ص) مبارزه چې دټول بشریت دخیر، فلاح او ژغورنې ستره وسیله ده راژوندې اوتانده کړي .
نودالحادي نظریاتو ښتنانو په یوه لاس اوپـــوي خـــولې پـــه افغانستـــان کـــې دځوانومسلمانانودخوځښت اوغورځنګ دشنډولو اوله منځه وړلو په لاره کې خپلې سپېڅلې سره نژدې کړې او په دې برخه کې یې پر هسې هلوځلو لاس پورې کړچې دچاخبره په هندوړامنډویــې نه سمه پرېښوده او نه هم
غر، نه یې وچې ته کتل او نه لمدې ته اودغه ناوړه هلې ځلې هسې مرحلې ته

روسانو په افغانستان کې دتوردسري خوړونکي بلا به راوستلو سره هسې ستراونه ښونکي جنایت اوخیانت وکړچي نه یوازې په افغانستان کې ګوډاګیان یې دښې ورځې ښتنان نه کړل بلکې په ټوله نړۍ اوان پخپله په روسیه کې یې هم دکمونیزم دسوځېدلودلمبولوخړې اوګردونه پورته شول .

روسانو د کمونیزم د پیاده کولو له امله زموږ ۲۰۰۰۰۰ تنه هیوادوال چې د هیواد په سلو کې د ۱۲/ وګړي دي تښتیدلي، شل، شوټ او ګوډ کړل زموږ د غه مسلمان وګړي اوس اوس هره ګړي او هره شیبه د خپل پلرنۍ هیواد آزادي او خپلواکۍ ته هو سیږي.

ورسیدل چې له شرمه ډکې او زړه بوګنوونکې پیښې او جنایتونه یې رامنځ ته کړل.

نړیوال واسلام د ښمنه سازمانونو او په تیره بیا د ختیځ او لویدیځ په ګڼ شمیر هیوادونو کې د جاسوسۍ لکه (کا، جی، بی، سی - آی - ډی) او انتیلی جنټ سرویس سازمانونو تې او پایځې راونغښتل او زموږ په هیواد کې یې د ظاهر شاهی او داود شاهی رژیمونو په دوران کې د ځوانو مسلمانانو د اسلامي خوځښت او غورځنګ د شنډولو په لاره کې په کاربیل وکړ. د لویدیځ د جاسوسۍ موسسو په یود ډول او د ختیځ موسسو د کمونستانو په روزنې سره په دې برخه کې په سیالۍ لاس پورې کړې چې همدغه پیل شوې سیالۍ زموږ د اوسني بدمرغۍ ستر بنسټونه شول.

په افغانستان کې د ځوانو مسلمانانو د مبارزې پیل په یو شمیر اسلام پالو نړیوالو ځواکونو کې د اهیله او مینه تانده کړه چې په اسلامي افغانستان کې یو ځل بیا د اسلامي رنها یو روښانه شوې او همدا رنها به وي چې په سیمه کې به د الحادي او کفري ډلو ټپلو مخنیوی کوي او د همدغه پیل شوې مبارزې لړلیدیې روښانه او بریالۍ اټکل کاوه او په همدغې هیلې یې شیبې او شپې شمارلې او تیرولې.

داچې ستر و نړیوال و اسلامي ضد رژیمونو او حکومتونه غوښتل چې په نړۍ په تیره بیا په ګران افغانستان کې دې د اسلام شین له ویاړ او پرتمه ډک بیرغ وړپیږي نو د وخت رژیمونه یې هم د اسې تطمیع کړل او اسلام یې هغوی ته د هغوی د زوال د ځواک په توګه وښکاره ښکاره نو د رژیم واکمنانو هم د اسلام نوم به هم هم کې یاداوه نه یې غوښتل چې د اسلام دستر او بشرپال دین ریښتونی وړانګې دې د افغان مسلمانو سترګې روښانه کړې داځکه چې هغوی د اسلام د ستر دین په لاره کې مبارزه د خپل ژوند د پای له پاره د خطر زنګ او پای باله او په دې برخه کې یې په لویدیځ کې اسلام ضد ډلو او حکومتونو ته سربښوراوه او له ختیځ سره یې د اسلامي پاڅون د مخنیوي له پاره په پرانیستي غیږ لاس یوکړ.

همسې یې سره لاس یو کړ چې پخپله په ارګ کې یې د کمونیستانو له پاره د روزنې زمینه برابره کړه او خپل جنرال غلام بچه «کارمل» یې هلته ورورزه او د مارکسیزم او لیننیزم په انسان وژونکې وسلې یې ښه سمبال کړ. د کمونیستانو د ښې روزنې، پالنې او لوئیدنې له پاره یې پورهاو د زړه له اخلاصه ګام پورته کړاوله همدې امله وچې روسانو پخپله خلاص مټ د خپلو ګوډاګیانو د ښې روزنې له پاره په افغانستان خپلې منګولې ښې خښې کړې او د اوروسته پاتې ساتل شوې مسلمان ملت یې د اقتصادي ودې په نړیوال ډګر کې په خاصه توګه پخپل ځان پورې وتاړه او له بهرخخه یې د هر ډول اقتصادي اړیکو څخه بې برخې کړ.

داچې روسانو ظاهر شاهی او داود شاهی رژیمونه په اقتصادي او سیاسي ډګر کې پخپل ځان پورې وتړل او د هغوی سیاسي پاملرنه یې هم د ځان په لوروا ړوله نو یې همدغه موده غوره وبلله او خپلو وزو ترد ګوډاګیانو ته یې د سیاسي واکمنې د غصبولو زمینه برابره کړه لومړی یې خپل پخوانی دوست لیونی سردار داود رامنځ ته کړ او شاهي تخت یې پر جمهوری تخت بدل کړاو کله چې د هغه پرضد یو ځل بیا د شاهي رژیم په زندانونو کې ربړیدلي مسلمانان راټول شول او وپوهیدل چې روسان ګام پرګام غواړي په افغانستان کې کمونیزم خپور کړي نو د غه مسلمانو ځوانانو

په تش لاس په هیوادکی داسلامی احساس
اوالهی جذباتو په رڼاکی په اسلامی جهاد
لاس پوری کړ .

روسانو تریوی مودی پوری لیونی
سرداردواکمنی پرتخت پریښود او کله چی
وپوهیدل چی نن سبا به په ټول
افغانستان کی داسلامی دعوت له برکته
ځمکه اوآسمان پرروسی ضدوګرځیدل شی
نویی دخپل رسوایی دپټولوله پاره درژیم

> افغانانو ته په يوي بيړي يعني
> شلمه بيړي کې
> ددووسترواستعماري اوداره
> ماروځواکونوله شرمه ډکوماتو
> ويارورپه برخه شو.افغانانو به
> لومړي ځل انګريزي تيري
> کوونکي مات کړل اوددوهم ځل
> له پاره يي دمغزي مالي
> او انساني
> ځواکونواستثمارکوونکي
> يرغلګرروسان مات کړل .

په سطح په « اس بدلی اوخربدلی » لاس
پوری کړ اودغه لړی ترهغی دوام وکړچی
دلوی خدای (ج) په فضل دکمونیزم
شلیدلی کڅ جوړنشو، نه داچی دغه
دکمونیستی موزیگی کڅ جوړنشو بلکی
هسی دانگی وانگی شو چی دتره کی ،
حفیظ الله امین او ببرك کارمل غوندی
سترایجنتهان یی هم له
پښواوبازوګانوولویدل .

روسانو په افغانستان کی دشوردسړی
خوړونکی بلاپه راوستلو سره هسی ستراونه
پښلوونکی جنایت اوخیانت وکړچی نه
یواځی په افغانستان کی ګوډاګیان یی
دښنی ورځی ځښتنان نه شول بلکی په ټوله
نړی اوان پخپله په روسیه کی یی هم
دکمونیزم دسوځیدلو دلمبولوخړی اوگردونه
پورته شول اوهسی پورته شول چی انشاء
الله تعالی ډیرژربه نن
سبادکمونیستوحریصانو کاسی تشی اوخولی
به یی سپیری وی او ډیرژربه دکمونیزم
دمالی خولیالی رژیم په ناروغی اخته
واکمنان دهغو اورونوپه لمبوکی وریته شی
چی دوی پخپله داسلامی ټولنواوروسی
ضدځواکونو دسوځولو له پاره بل کړی و.

روسانو په ختیځ کی داسلام ضدټولنوپه
مرسته اوتائید له دی امله چی که په
افغانستان کی یوځل بیا داسلامی جهادولی
تاندی شی اوددغه مبارزه پالونکی
غورځنگ بشپړبریالیتوب ترلاسه شی
نوهرومرو به په سیمه اونړی کی ټولو
صهیونیستی کمونیستی او اسلامی
ضدډلوټپلوته دمرگ ویره لازیاته کړی
نویی دخپلو روزلو او پالل شویو بچیان
دژغورنی له پاره خپل سره پوځونه په
توره شپه کی دځمکی اوهواله لاری راپیاده
کړل او دافغانستان په پاکه اوآزادی
پالونکی خاوره باندی دشلمی پیړی
دسترداره ماراواستثماری رژیم ناولی پښی
دانترناسیونالیزم دبشری ضد پردی
ترشاکیښودل شوی اوپه دی توگه
دغوسرووپوځونودشلمی پیړی عصری
وحشیانوزموږدبی گناه
مسلمانووگرودوینوسره رودونه وبهول
اوزموږدپلرنی ټاټوبی لویشت لویشت یی
پری تکه سره کړه .

که څه هم ټول نړیوال ان ترخپله روسانو
پوری ښه خبردی چی روسی واکمنانو او
دهغوی گوډاگی رژیم په اسلامی افغانستان
کی څه نه ووچی وه یی نه کړل. روسانو
په افغانستان کی دافغانانو له مال وسرڅخه
نیولی ترمادی اومعنوی شتمنیوپوری هرڅه
لوټ کړل او هرڅه چی په مخ ورغلل که
وژل کیدل، وه یی وژل که وړل کیدل، وه
یی تښتول؛ که خوړل کیدل وه یی خوړل
اوکه نه نودخپلو درنو اوکیمیاوی
مدرنووسلو په استعمال یی له
تورزخاوروسره برابرکړل .

موږباورلروچی نړیوال له موږسره په دی
غم اودردکی یودی اوځان راسره شریك
بولی خودپښتوژبی متل دی چی: « په
اورهغه ځای سوځی چی پری بلیږی » یعنی
په دی معنی چی ترهرچازیات افغان

دلوېديځ دجاسوسي موسسو په يوه ډول او دختيځ دجاسوسي مؤسسو له بلې خوا زموږ په هېواد کې دکمونستانو او جاسوسانو په روزنې سيالي پيل کړه چې همدغه پيل شوې سيالي زموږ داوسنې بدمرغۍ بنسټونه شول.

مسلمانان دکمونيزم د وحشت په بټۍ کې خوړين شول او ان دا چې غوښې يې توټې ټوټې هم ... يې هم ايرې ايرې شول. دکمونيزم دانترناسيوناليزم په څپوکې دغه څه وکړل چې نه دانګرېزانو هم د چنګيز ظالم او تيمورلنګ په قاموسونو کې ورته څېره بېلګه نه مېندل کېږي او نشي کېداى چې دبيان ژبه ورته وتاکل شي او يا دکاغذ په مخ او دقلم په ژبه ثبت او خوندي شي.

دلته ديو شمېر زوړو څېړنو له مخې غواړم چې دروسي داړه ماروغو تورو عملونو ته په لنډه توګه پام راوګرځوو چې دهغو په نتيجه کې دلوى او بې نيازه څښتن تعالى په فضل افغانانو ته په يوې پېړۍ يعنې شلمه پېړۍ کې دنړۍ ددووسترو استعماري او داړه مارو ځواکونو له شرمه دکوماتوو ياړو په برخه شو. افغانانو په لومړي ځل انګرېزي تيري کوونکي مات کړل او ددوهم ځل له پاره يې دمغزي او مالي او انساني ځواکونو استثمارکوونکي يرغلګر روسان مات کړل او دغه کارنه يواځې له خپل ګران هېواد افغانستان څخه يې وکښل بلکې تجربې ښودلې چې له نړۍ څخه ددواړو شيطاني ځواکونو د توري کمپلې دټوليدو د پاى ته رسيدو پيل هم ګرځيدلى.

روسانو دخپلو شوموارمانونو د پوره کولو او پياده کولو له پاره څه دپاسه يونيم ميليون نر، ښځې، واړه او زاړه افغانان دژوند له سترنعمت حخه بې برخې کړل دا کومه اسانه خبره نه ده او دانسان په قربانى يواځې انسانان پوهيداى شي آيا افغانانو په دې له کړاو دک ژوندکې دا يونيم ميليون افغانان دروسي داړه مارانو دترينګ او پريکټس ياد هغو د ژوونکو وسلو دآزمويلو له پاره روزلي وو. داهغه ستره ضايعه ده چې هيڅکله به يې تلافي ونکړاى شي او له بده مرغه چې له دغه شمير څخه زيات برخه يې زموږد سواد او پوهې څښتنان وو چې داسلامي افغانستان په بسيا راتلونکې کې بې اغيزې نه وواوڼه دي.

روسانو په دې توګه خپل انساني، اسلامي او افغاني ضد کړه وړه نه ښه ښکاره او څرګند کړل هغوى زموږ يواځې (۱۵۰۰۰۰۰) کورنۍ دوېرا او ماتم په ګدى کېنولې او په هر کور کې دوېرا وساند وغلبلې جوړې شوې. يا په بله ژبه زموږ دهېواد په سلوکې (۸/۵) وګړي چې دټولو هېواد د نفوسو پر تناسب ډېر لوړ رقم دى دخداى (ج) له سترنعمت ژوند څخه داسې بې برخې کړاى شول چې يا ژوندي تر خاورو لاندې شول يا په دښتو، غرونو او لمنو کې دوينې دوچيدو له امله او يا هم دداروډ رملو د نښتو الى له کبله دشهادت لوړ مقام ته ورسيدل او له دوينې نړيوال جګړې سره په پرتله کې ښه څرګنديږي چې دادانساني تلفاتو ډير لوړ شمير دى.

دغه راز روسانو دکمونيزم دپياده کولو له امله زموږ (۲۰۰۰۰۰۰) تنه هېوادوال چې دهېواد دوګړو په سلوکې ۱۲/۵ وګړي دي ټپيان، شل، شوت او ګوډيان کړل، زموږ دغه مسلمان وګړي اوس اوس هره ګړۍ او هره شيبه دخپل پلرني هېواد آزادي او خپلواکي ته هوسيږي. دهغوى له مينې او هيلې ډک زړونه پخپل پلرني ټاټوبي کې داسلامي حکومت ټينګښت ته سترګې په لار دي خوظالم او خونړي غدار دښمن له هغوى څخه دکار او بار ځواک بېخي وړى او له انديښنې پرته بل څه يې ورته نه دي سوغات کړي.

که څه هم خپل کلي کور او خپل ولس پر هرڅه چا زيات ګران وي ان تردې چې که

دیوی مرغئ ځالې اویادیوډول غوبښتو یابلې کومې حشرې ډومبکې ته ځوک ګوتې ورووړي او دهغې نیول یې هدف وي نوترخپل توان پورې تري دفاع کوي، ځان پرې وژني اوکه ونشونوله ناکامه خپل ټاټوبی پرېږدي اوبل ځای ته لیږدي کډه کوي او سترګې پناه کوي افغانان چې له خپل اسلامي کوراسلامي افغانستان سره ډیره مینه اوناپایه محبت لري دروسانو دیرغل په وړاندې دهغه یرغل په وړاندې چې هم یې دافغانانوپردین، ولس او هیوادتیري وء سخت ودریدل، وجنګیدل، وکړیدل او ډیروځوریدل.

افغانان له دغو ټولو ناخوالو سره سره اړشول چې دکمونیزم دځناورتوب په وړاندې خپل پلرنی ټاټوبی پرېږدي اودروسانو له شر، فساد اوبې پته کولو څخه دژغورنې په هیله له هیوادڅخه ووتل اویاهم دننه په هیوادکې له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته وکوچیدل چې په دې توګه (۶۵۰۰۰۰۰) تنه افغانان دخپلو کورونو له پریښودلووروسته بهرته تللي اوزموږ(۲۰۰۰۰۰۰) هیوادوال له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته تللي چې په مجموعي توګه دټولو مهاجرینو شیمر(۸۵۰۰۰۰۰) تنوته رسیږي اوهردویم افغان په کې بې کوره شویدی.

دیوه هیواد هغه هم لکه دافغانستان له پاره چې په سلوکې دوه یادرې تنه یې دسوادښتنان وي دومره تاوانونه او ښتل کومه اسانه خبره نه ده که په عادي توګه دهغوی دتداوي، معالجې اواقتصادي عواقبوته پاملرنه وشي نوزیان به یې (۳۸۰۰۰۰۰۰) دالروته ورسیږي.

.

که چیرې موږخپلو ۸ /۵ میلیونه مهاجرو

هیوادوالوهریوه ته اوښتي تاوانونه پنځوس اولس زره ډالره اټکل کړو نوترلاسه شوي شمیر ځیړنه څرګندوي چې زموږدغومسلمانو وګړوته چې له هیوادڅخه بهراویاپه هیوادکې دننه له یوې سیمې نه بلې سیمې ته تللی دي، (۳۴۵۰۰۰۰۰۰۰۰) ډالره تاوانونه اوښتي دي چې دغه شمیر که په بیاجوړونه کې هم همدومره وبولونواندازه به یې دوه برابره وي.

ذاچې زموږهیوادوال په کرنه اومالداري بوخت دي نودروسانو له راتګ سره سم زموږدهیوادوالودمالداري اوکرنې پر شتمنیوهم سخت ناتار ورګډشوده ۱۹۷۸م کال دشمیرنوله مخې په افغانستان کې (۲۲۷۵۳۳۰۰۰) پسونه، وزې، غواګانې، خره، اوښان اوآسونه موجودوچې په اټکلي توګه له دغه درکه (۲۱۰۵۵۴۰۰۰۰) ډالره تاوانونه زموږهیوادوالوته رسیدلي دي او که همدغه شمیر په تیروشوکلونوکې دتکثیرله مخې اوونرخونودلوړوالي له پلوه وځیړل شي نودژوبوشمیربه (۱۰۷۹۶۴۰۰۰) ته رسیده اوله دغه درکه اوښتي تاوان (۸۱۶۴۱۰۰۰۰۰) ډالروته رسیدلي وي.

روسانو اودهغوی ګوډاګیانو نه یواځې زموږدمسلمانوهیوادوالوپه شهیدولو، ټپیان کولو، مهاجرکولواومالي تاوانونوبسنه ونکړه بلکې (۱۳۷۵۱۴۰) جوماتونه، کورونه، اپارتمانونه، ښوونځي روغتونونه اوودانۍ یې نړولي چې له دغه شمیرڅخه یې (۱۲۰۰۰) جوماتونه (۳۰۰۰) ښوونځي، (۱۴۰) روغتونونه اودارالمعلمینونه له خاوروسره برابرکړیدي چې له اټکلي لګښتونوڅخه ویلې شوچې.

(۴۴۹۴۰۰۰۰۰۰۰) ډالره مستقیم تاوان له همدغه پلوه زموږدې وروسته پاتې شوي هیوادته رسیدلي دي.

په دې تیرولسوکلونوکې زموږورشوګانې، څړځایونه، بڼونه، فارمونه اودکرنې تخنیکي سامان آلات له منځه وړل شوي اوسیمې په وچوډاګونوبدل شویدي چې په دې توګه

له دغه درکه هم زموږهیوادوالوته (۳۴۷۴۲۴۲۰۰۰۰) ډالره زیانونه رسیدلي دي.

ځرنګه چې زموږپه هیوادکې دتیرورژیمونو له خوازموږداستعدادلرونکي **مسلمان** ملت سره دورځنۍ ژوند دسمون په مخنیوي کې دصنعت رامنځ ته کیدلوته هیڅ ارزښت

نه دي ورکړشوی نه يواځې دافغانی صنعت له پاره کارونشو بلکي دمدرنوصنعتونو دترويج له پاره هم هيڅ گام پورته نشواو دبده مرغه هغه نيمه نيمکله صنعتي شتمني موچې په نيمگړې توگه درلوده هم دروسانو له خواتالاترغی شوه اوله دغه پلود اټکل شوی تاوان هم (۱۱۰۰۰۰۰۰۰۰) ډالره اټکل کيدای شي .

که څه هم دتيرورژيمونو له خوا دنړی دنورو هيوادوپه پرتله په افغانستان کی دلويولارواوپخوسړکونو اودمخابراتي سيستم په پياوړتياکی هيڅ کارنه دی شوی خوبياهم دهيڅ په حساب سړکونه اومخابراتي سيستم هم د يرغلگرو روسانو له خواپه ډيری بی رحمۍ سره ړنگ وبنگ شو او په دغوبرخوکی هم دروسانو له خوامونږ افغانانو ته (۳۲۸۶۲۰۰۰۰۰) ډالره نيغ په نيغه تاوانونه اوښتي دی .

روسانو په افغانستان کی نه يواځی پخپلولاسونواودرنو وسلوزمونږغرنی هيواد په کنډوالوبدل کړبلکی په تيرولسوکلونو کی يی زمونږغرونه، رغونه ، دښتی ، لمنی ، کروندی ، باغونه اوبڼونه له هسی مينونو ډکه ډک کړل چی کلونه، کلونه به زمونږمسلمان ولس ورسرد په جگړه اخته وی او زمونږگڼ شمير مجاهد اومهاجرورونه يی له پښولاسونواو نورغړيوڅخه بی برخی کړی او له تدريجی ځورونکی مرگ سره يی مخامخ کړيدی . شميرنی څرگندوی چی روسانو (۵۰۰۰۰۰۰۰) مينونه دافغانستان په (۳۱۳۱) سيموکی کرلی اوخښ کړيدی چی ددغه خطرد مخنيوی اوپاکولو له پاره هم مونږ افغانان (۵۵۰۰۰۰۰۰۰۰) ډالرولگښت ته اړتيالرو . که ترلاسه شويوشميرڅيرنوته په ځيرسره وکتل شی اودتيرولسو اوښتو تاوانونواولگښتونوپه باب نکروشی نوترلاسه شوی رقم (۸۳۳۶۳۳۱٤۰۰۰۰) دالروته رسيږی او که چيری بيا وغواړوچی خپل اسلامی هيوادافغانستان سمسوراوښيرازه کړونوهمدومره نوردپيسوته اړتيا لیدله کيږی يعنی داچی مونږيری پخوانی حالت

داسلام غازيان ددښمن پرمرکزونوتوغندی ورخوشی کوی

ته (پرته له دی چی يونيم ميليون مسلمانان موشهيدان شوی ، دوه ميليونه موميعوب شوی او اته نيم ميليون تنه مومهاجرشويدی) رسيدلی شو اوداچی زمونږ دپرمختيااوانکشافی مسايلومخه نيول شوی ترحده تيريږی اوکه بياهم خپلو کورونواوکليوته ورځوخپلی کنډوالی جوړوواوله سره ژوندپيل کوو نوډيروزياتوامکاناتو ته اړتيا ليدله کيږی .

اوس چی پوره يوولس کاله په ټول افغانستان کی له ځمکی اوهوانه دباروتو اوازونه او دوډونه پورته شول اوزمونږافغان مسلمان ملت له سترخونړی کمونيزم سره ډغری ووهلی او هغه مودلوی خوای(ج) په فضل اوکرم په گوندوکړيوځل بيا دختيځ اولويديځ شيطانی ځواکونوخپل وربوزونه سره نږدی کړيدی اونړی ته داسی حرگندوی چی دا له موره مهربانی دائی گانی » غواړی مونږته يو حکومت جوړکړی او په هغه کی دواړه خواوی غواړی چی خپل پټو ساتلی گوډاگيان زمونږدجهادی سرښندنو اوقربانيو وارثان کړی .

دلويديځ او ختيځ ترمنځ په دی ورځوکی دافغانستان دمسألی په بڼاب دډنډوروبازارښه گرم شوی ، هغوی اوس هم اټکل کوی چی گواکی افغانان خپل دوست او دښمن نه پيژنی خوله دی بی خبره دی چی دافغانانو سياسی پوهی، مبارزی اوجهاد نه يواځی افغانان پوه کړل بلکی دنړی مسلمانانو، روسی ضد ځواکونو

اواستعمارشویوملتونو۳ دخلاصون او مقاومت
لاره وښودله او لکه څنګه چې اسلامي
ضدرژیمونو اټکل کاوه په هماغه ډول
افغانانو داسلامي جهاد تیربرم اوپرتم
راژوندی اوتاندکړ .

اوس لویدیځ اوختیځ پوهیدلي چې نوري
په افغانستان جادو، سحراومنترنه چلیږي
نویې لومړی دژنیو دتړونونوډرامه وړاندې
کړه هغه هم ددې له پاره چې روسي
حریف ته یوه داوړوپوزه جوړه کړي ،
وریسې یې دملګروملتونو په غونډو کې له
همدغه امله ومکراوبڼکي توئي کړي اوبیاږي
دیپلوماتیك هیأتونه لیبرل رالیږل سره تند
کړل او غواړي چې په لومړي سرکې په
افغانستان کې دیوه اسلامي حکومت
دجوړیدومخه ونیسي . هغوی پوهیږي چې
دافغانستان راتلونکی اسلامي حکومت به
چې په بې بنیادوتاوانونو او
سربښندنوترسره کیږي په ټوله نړۍ کې به
داسلام داتلو سربښندونکو له پاره دروزنې
، ښوونې او ډاډګیرنې مرکزوي .

اوس دغه ستراسلامي ضدشیطانان غواړي
چې دخپلو پخوانیوطرحو له مخې په
افغانستان دیوپراخ بنسټیه حکومت
دجوړولو طرحه دخپل ځان په ګټه عملي
کړي او په هغې کې دزرګونو شهیدانو،
معیوبینو، مجاهدینو مهاجرینو او
محبوسینو له وینو او کړاوونو څخه دمستۍ
او لیونتوب دشرابوپیالي ډکې او پرسریې
واړوي

خوهغوی نه پوهیږي چې افغانان په
هوښیاری سره ګام اخلي، افغانان ښه
خبردي چې په ټوله نړۍ کې اسلام دښمنه
ځواکونه دافغانستان دمسلمانانو له اسلامي
انقلاب څخه ویره لري، افغانان خبردي
چې روس اوامریکا نه غواړي چې په
افغانستان کې دي یو اسلامي حکومت
جوړشي اودغه اسلامي حکومت دي دختیځ
اولویدیځ زبرځواکونو ته سترخنډشي .

خو موږ خپل مهربان، قادراوتواناڅښتن
په ډاډاودخپل اسلامي جهاد اواحساس
پرباورخپلو مسلمانو هیوادوالو، دنړۍ
مسلمانانواوتراستعماراواستثمارلاندې ټولنوته
ډاډورکوو چې
زموږد مسلمانومجاهدوشهیدانووینې په هسې
څپانده سینداوسیلاب بدل شوي چې
دکمونیزم ریښې یې له بیخه ایستلي په ټوله
نړۍ کې یې جرړې راوختلې او انشاء الله
تعالی چې ژربه په ټوله نړۍ کې دکمونیزم

دتباهي لوخړې دځمکې ټول مخ ونیسي
اودکمونیزم الحادي رژیم به دتل له پاره
دنابودۍ کندې ته ورولویږي .

اوداهم دویاړخبره ده چې تش لاس، بې
وزلي افغان مسلمان مجاهدولس دایمان
اوعقیدې په ریښتونې وسلې سره دروس
غوندې بشري ضدکمونیستي رژیم مات کړ
او تلپاتې ویاړیې ورپه برخه شو .

###

داهم دروسي وحشت یوه بیلګه



وحید "مژده"

قسمت سوم

انسان کامل و جامعه مطلوب از دیدگاه اقبال

گفتند جهان ما آیا بتو می سازد ؟
گفتم که نمی سازد ، گفتند که برهم زن !
« زبورعجم »

تصورازمشخصات انسان کامل وجامعه مطلوب به اندازه مکتب های مختلف فکری ومدینه های فاضله ای که این مکتب ها خودرا متعهدبه برقراری آن

درجهان میدانند متفاوت است . درمدینه فاضله افلاطون انسان دریک جامعه، اشتراکی زندگی میکند . جامعه ئی که درطول هزاران سال از تصورآن تابه امروز، هرگزمجال تحقق برروی این سیاره خاکی رانیافت . « توماس مور» هم تصوری ازیک جامعه خیالی رابه تصویرکشیده ولی ازاین جزیره خیالی نیز درجهان خبری نشد . انقلاب کبیرفرانسه هم وعده بوجودآمدن انسان جدیدی را داد ولی چنین انسانی هرگز قدم برروی خاك ننهاد .

کمونیست ها بازورفشاروسرنیزه تلاش کردند تا بزرگترین جامعه یکرنگ درجهان رابوجود آورند . آنهااین امکان راداشتند تادرمنطقه وسیعی از جهان ازنظرمساحت . بزرگترین کتله از انسانهارا تحت کنترول خویش درآورند ولی اکنون پس از دهها سال مردمان آن جوامع باقیام خروشنده درصدد ویران کردن بنیادهای آن نظام تحمیلی اند . دربعضی ازاین جوامع ، انسان ها درطی چندنسل تحت سلطه نظام کمونیستی حیات بسربردند ولی نتواستند فطرت خودرابا آن نظام وفق دهند ویکبار دیگر این واقعیت به اثبات رسیدکه بهادادن وارج نهادن به فطرت وتمایلات وخواهشات انسانی درحد معقول آن لازم ساختن یك اجتماع انسانی است . نظام اجتماعی سالم زمانی بوجود می آیدکه بافطرت انسانی موافق باشد، نه اینکه اول جامعه ئی رابصورت تخیلی درتصورآوریم وبعدانسان را وادارسازیم فطرت خویش راباآن نظام سازش دهد . فطرت انسانی بازندگی درپشت پرده آهنین هرگز سازش ابدی ندارد .

امانسانی که اسلام آنرابعنوان انسان کامل می شناسدوجانشین خدایش درزمین می خواند و وراثت زمین را به وی وعده میدهد زاده تخیل نیست . چنین انسان بروی زمین بوجودآمده وجامعه اسلامی نه باتصوری چون یك « آمانشهر» ویامدینه خیالی بلکه بصورت یك واقعیت ملموس وعینی برهنه همین خاك بدست همانگونه انسانها اساس گذاشته شد . هرچند انسان امروز از جامعه صدراسلام (۱٤۰۰) سال فاصله زمانی دارد وانسان درین چهارده قرن گذشت زمان فرازونشیب وتغیرات وتحولات فراوان

> *پیام اقبال تنها محدودبه مسلمانان هندنیست ، اوضاع اسفبارمسلمانان درسراسرجهان اسلام نیزموردتوجه اقبال بوده وپیام وي پیام بیداري به همه امت مسلمه است .*

راشاهدبوده است ولی این تغییرات ودگرگونی ها ازضرورت بازسازی جامعه اسلامی نه تنها نکاسته بلکه انسان امروزبیشتر از هروقت وزمان دیگر ضرورت بوجودآمدن آن نظام رااحساس می کند .

برای احیای مجدد آن نظام درقدم او ل باید تصوری از انسانی که این نظام به همت وی برپامی شودوبانیروی وی برجامی ماند باید داشت . افرادخشت های بنای جوامع اند، تشتت وسرانجام اضمحلال جوامع از ضعف افراد آن آغاز می شود همانگونه که ضعف امروز مسلمانان وتسلط نیروهای استعماری برآنان از « خودبیگانه » شدن آنان آغازشد .

درارابطه بامشخصات یك انسان کامل دراندیشه مولانا اقبال ، جامعه ومحیطی که اقبال درآنجا زاده وپرورده شد نقش اساسی داشته است . اقبال درهند تحت سلطه استعمارانگلیس بدنیا آمد سرزمینی که بزرگترین کتله ازمسلمانان جهان درآن حیات بسرمی بردند ولی هم از طرف هندوهاوهم ازجانب نیروهای استعمارگرانگلیس تحت فشارشدید مادی ومعنوی قرارداشتند .

انگلیس ها بعداز تسلط برهند درسال ۱۸۵۷ میلادی ، مسلمانان را بزرگترین قدرت مخالف خویش درهند تشخیص دادند مسلمانان هند رشته های تعلق معنوی استواربامسلمانان افغانستان داشتند که درآن روزگاردرگیر نبردسخت بااستعمارانگلیس بودند بنابراین انگلیس ها همه تلاش خویش رادرجهت تضعیف مسلمانان هند بکارگرفتند . غصب و ضبط اموال ودارائی مسلمانان وممنوع ساختن استخدام مسلمانان درادوایر وادارات دولتی از آن جمله تدابیر استعماری بود عدم استخدام مسلمانان دردستگاه های دولتی چنین توجیه می شد که آنان علاقه

ئی به سیستم تحصیل به شیوه مدرن غربی ندارند وشیوه تحصیل سنتی درمدارس دینی جوابگوی نیاز های سیستم اداری دولت نیست . (سرویلیم هنتر) انگلیسی درکتاب خویش بنام « مسلمانان هند» تصریح می کند که بین سالهای (۱۸۵۲ الی ۱۸۶۸) درهیئت وکلای شهر کلکته (۲۴۰) نفر وکیل هندی پذیرفته شدند که از آن جمله فقط یکنفرمسلمان بود . از (۱۳۳۸) کرسی دولتی وایالتی فقط (۹۲) کرسی به مسلمانها تعلق داشت .

این حالت اسفبارتاحدی به طرز تحصیل مسلمانها نیزرابطه داشت واگرمسلمانان به طرز تحصیل واندوختن دانش عصر بی اعتنا باقی می ماندند خطرآن وجودداشت که بصورت کلی تحت سیطره هندوها قراگیرند .

روی همین نیاز سرسید احمدخان درسال (۱۸۷۵) یك موسسه علمی را درشهرعلیگربرای مسلمانان تاسیس کرد که بعدها بشکل یك پوهنتون مستقل شناخته شد .

بعضی ازمحققین تلاش نموده اند تا سرسید احمدخان رابعنوان یك عامل انگلیس درهند وپوهنتون علیگرراصرفاً یك موسسه فرهنگی از جانب استعمارروانمود کنند آنان درین رابطه فقط به یك جنبه ازقضیه آنهم بشکل سطحی توجه نموده و ازجوانب دگیر اهداف آن غافل مانده اند . اگر پوهنتون علیگردرهند تاسیس نمی شدبوجودآمدن کادرهائی که بعدها از سقوط مسلمانان هند بدامن حزب کنگره وهندوها جلوگرفتند بعید از تصوربود . زیراحزب کنگره مدعی نمایندگی از همه مردم هند بود .

علامه اقبال نیز چون بسیاردیگر از رهبران مسلمان هند درابتدااز مدافعین وحدت میان هندوهاومسلمانان بود .(بانگ درا) نخستین مجموعه شعر اقبال که بزبان اردو سروده شده ، سرشاراز چنین احساس است ولی بعدها جریان وقایع طوری آمد که اقبال نیز متوجه شدهندوهاومسلمانان دوملت از هم مجزابوده ونمی توانند دریك کشورواحد باهم درصلح زند گی کنند . درجلسه حزب (مسلم لیگ) که درسال (۱۹۳۰) بریاست وی درشهر (اله آباد) تشکیل شد وی بصراحت از مفکوره بوجودآمدن یك دولت اسلامی برای مسلمانان هند سخن گفت بصورت کلی اندیشه اقبال سرشار از شور پیکارومبارزه است او درهرگوشه از زندگی مسلمانان که نشانه ئی از جمودوسکون رامشاهده کرد شجاعانه برآن تاخت واز آن تنقید نمود .

نفوذ اندیشه ها ی غیراسلامی چون فلسفه یونان ، مانویت ، بودیسم وزردشت دراندیشه مسلمانان بسیاری از آنان راازواقعیت اسلام دورساخت . آنان رضای خدا(ج) رادرین می دانستند که ازمردم کناره گیرند ودرخلوت خویش زندگی کنند . دنیا از نظرآنان پست وپلید بود وارزش وشایستگی دلبستگی وتوجه رانداشت چنین طرز دید که از رهبانیت برمی خیزد خیال استعمارگران راازجانب این دسته از مسلمانان راحت می ساخت .

گروهی دیگراز مسلمانان چاره کاررادرین دیدند که بااستعمارازدرسازش وتسلیم درآیند . یعنی هردوگروه از خویش بیگانه بوده وهیچ نگرانی از از مضمحل شدن جامعه مسلمانان درتحت سیطره استعماروهندوها نداشتند .

درچنین برهه حساس از زمان اندیشه های اقبال پا به عرصه تاریخ نهاد . البته پیام اقبال تنها محدود به مسلمانان هندنیست اوضاع اسفبارمسلمانان درسراسرجهان اسلام نیزمورد توجه اقبال بوده وپیام وی پیام بیداری به همه امت مسلمه است .

درپیام مشرق می گوید :

ابطحی دردشت خویش از راه رفت
ازدم او سوز الا الله رفت
مصریان افتاده درگرداب نیل
سست رگ تورانیان ژنده پیل

انسانها درطي چندنسل تحت سلطه نظام كمونستي حيات به سربردند، ولي نتوانستندفطرت خودرا باآن نظام وفق دهند، ويكباردیگراين واقعيت به اثبات رسيدكه بهادادن وارج نهادن به فطرت وتمايلات وخواهشات انساني درحدمعقول آن لازم ساختن يك اجتماع انساني است .

×××

ال عثمان از شکنج روزگار
مشرق ومغرب زخونش لاله زار
عشق رآئین سلمانی نماند
خاك ایران ماند وایرانی نماند
سوزوسازززندگی رفت ازگلش
آن کهن آتش فسرد اندردلش
مسلم هندی شکم رابنده ئی
خودفروشی دل زدین برکنده ئی
درمسلمان شان محبوبی نماند
خالدوفاروق وایوبی نماند

اقبال همه جهان اسلام را« حرم» می خواند وبرای اهل حرم (خودی) رایگانه راه نجات از اسارت می شماردتدبر درمعنی (خودی) ازنظراقبال این واقعیت رامی نمایاند که اقبال باباریك بینی تمام به این مسئله توجه نموده است . خودی بعباره دیگرهمان « بازگشت به خویشتن » است تلاش دریافتن خودی درحقیقت تلاش درجهت شناخت ذات باریتعالی است :

من از بود ونبود خودخموشم
اگرگویم که هستم خوپرستم
ولیکن این نوای ساده ازکیست
کسی درسینه می گویدکه هستم

خدائی راکه ازرگ گردن بما نزدیك تراست درکجا باید بجوئیم ؟ درین جا اقبال اشاره به حدیث (قلب المومن عرش الله العظیم) دارد.

اقبال برای رسیدن به خودی به سه مرحله قایل است :

۱ـ اطاعت : که معنی آن پیروی کامل از حدودی است که خداوند(ج) به آن امرویاازآن نهی فرموده است .

۲ـ ضبط نفس وآن عبارت ازتلاش درجهت مهارنمودن تمایلات شیطانی وپروردن اخلاق الهی درخویش است ووقتی انسان از این دومرحله پیروزمندانه گذرکند به خودی واصل می شودوشایسته خلافت خدا برزمین میگرددکه اقبال آنرا« نیابت الهی » می نامد .

پیکرهستی زآثارخودی است
هرچه می بینی زاسرارخودی است
خویشتن راچون خودی بیدارکرد
آشکاراعالم پندارکرد
صدجهان پوشیده اندرذات او
غیراوپیداست از اثبات او

بعضی ازمحققین بااستنادبه شباهت هائی

فطرت انساني بازنده گي درپشت پرده آهنین هرگزسازش نه دارد .

که بین انسان کامل درتصوراقبال و« انسان برتر» ازنظر« نیچه» فیلسوف آلمانی چنین گمان برده اند که هردوانسان باهم یکی است درحالیکه چنین نظر درست نیست ومولانا اقبال خود این تصور راردکرده است . بزرگترین تفاوت بین این دوانسان اینست که انسانی که اقبال درنظر دارد« مردمومن » است .

درحالیکه «مردبرتر» نیچه نه تنها اعتقادی به دین وخدا نداردبلکه برضد چنین اعتقاداتی نیز برسرپیکاراست بعباره دیگر (مردبرتر) نیچه درجستجوی قدرت است قدرتی که هیچ رابطه ئی بادین وعرفان واخلاق ندارد درحالیکه از نظر اقبال « انسان » نمی تواند « کامل » شودمگراینکه بعد معنوی واخلاقی را درخویش پرورش دهد وازاین طریق است که میتواندبقدرت مادی نیز دست یابد وشایسته نیابت الهی برزمین گردد .

چنین شباهت ها درآراء نمی تواند دلیل حتمی برای تاثیرپذیری اقبال از نیچه باشد . شباهت هائی نیز میان انسان کامل درتصوراقبال یعنی اراده انسانی درفلسفه « شوپنهاور» فیلسوف آلمانی وجود دارد. « شوپنهاور» اراده رانه تنها حقیقت انسان بلکه حقیقت تمام مظاهرحیات وحتی کنه وعین تمام پدیده های بیجان نیز می شماردولی اراده ازنظراقبال فقط یکی از ابعاد شخصیت انسانی است نه همه حقیقت وهمه شخصیت آن . دراسرارخودی میگوید .

نائب حق درجهان بودن خوش است
برعناصرحکمران بودن خوش است
نائب حق همچوجان عالم است
هستی او ظل اسم اعظم است

اقبال نقررا عالیترین مرحله تکامل

بصراحت کلي اندیشه اقبال سرشارازشورپیکارومبارزه است اودرهرگوشه اززندگي مسلمانان که نشانه ازجمودوسکون رامشاهده کرد، شجاعانه برآن تاخت وازآن تنقیدنمود .

شخصیت انسان می شمارد البته معنی فقر دراندیشه وی باآنچه که عوام از این معنی درذهن دارند « که بیشتر ناشی از نفوذ طرزفکرهای انحرافی درتصوف اسلامی است» ازبنیاد متفاوت است .

ازنظراقبال ، فقر عالیترین مرحله استغنای بنده از بنده است همانگونه که خداوند ازهمه چیز مستغنی است . بنده ئی که خودرا به اخلاق الهی آراسته سازد از حامیان زوروزریکسره مستغنی میگردد .

چیست فقرای بندگان آب وگل
یك نگاه راه بین یك زنده دل
فقر کارخویش راسنجیدن است
بردوحرف لااله پیچیدن است
فقر خیبرگیربانان شعیر
بسته فتراك اوسلطان ومیر
فقر ذوق وشوق وتسلیم ورضاست
ماامینیم این متاع مصطفی است

درین جافقیر نیز از اصطلاح معمول ورایج عوام فرق دارد. عوام از انسان فقیر شخصی ناتوان ونیازمندکمك رادرنظردارند ولی اقبال از فقیر کاملاً نقطه مقابل این معنی رابه تصویرمی کشدبعباتره دیگر (فقیر) مردی انقلابی است که بخاطر رهانیدن دیگران از ظلم وجورقیام می کنـدودرین راه ازدادن سرابائی ندارد وازآنجال که دردل او هیچ هدفی جز کسب رضا ی خداوند(ج) نیست ملت نیز به وی اقتدامی کنند .

قلب اوراقوت از جذب وسلوك
پیش سلطان نعره او لاملوك
آتش ماسوزناك از خاك او
شعله ترشد از خس وخاشاك او
برنیفتد ملتی اندرنبرد
تادراوباقیست یك درویش مرد

آدمی درین مرحله به مقامی می رسدکه جز خدا(ج) ازهیچ نیروئی نمی هراسد .

باسلاطین درفتد مردفقیر
ازشکوه بوریا لرزد سریر
ازجنون می افگند هوئی به شهر
وارهاندخلق را ازجبروقهر

اقبال بابرجسته نمایاندن چهره (فقیر) درحقیقت نقاب از چهره مزورانی برمیدارد که عنوان (پیرطریقت) وفقیر برخویش نهاده اند ولی دست دردست صاحبان زر وزوردارند بعباره دیگر چنین اشخاص دزد کاروان اند وهمراه قافله ، ورژیم های استبدادی از وجود چنین اشخاص برای تحمیق مردم کمال استفاده رامی برند . (پایان)



دخدای دلاری دغازیانو یومورچل

قرآن او جهاد د دين دوه مظلوم حقيقتونه

قرآن او جهاد

د پوهنې د مسلمانو لپاره د ستري ادارې د حکومتونه جوړولو اړتيا

داکټر اسرار احمد

قرآن د جهاد تر ټولو لوړه مرتبه د ...

ژباړن : فضل مولا "لتون"

نوای نبی (صلی الله علیه وسلم) ! تاسی
د دغو کافرانو په وینامه کیږئ او د هغوی
پرخلاف د دغه (قرآن) په وسیله
جهاد وکړه ، محکم جهاد . « سوره الفرقان
ـ ٥٢) .

په دغه مبارك آیت کی الله تعالی خپل
پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د قرآن په
وسیله د محکم جهاد حکم ورکړی دی ،
خوله بده شامته همدا قرآن او جهاد زموږ په
دين کی هغه مظلوم حقیقتونه دي ، د دغه
په باب چی موږ د خورا زیاتو
ناسمیو ښکار شوي یو ، غور وکړئ کوم قرآن
چی الله تعالی د رسالت د فریضی د اداکولو
لپاره وسیله ټاکلی ، له هغی سره زموږ په
علمی او عملی دواړو اړخونو کی اړیکی

خومره دي ؟
ما احساس کړیده چی د سوره الفرقان
د دغه آیت په څیر چی په کوم
کوم ځایونو کی (به) د مجرور ضمیر په توګ
استعمال شویدی ، زموږ پوهان په عمومی
توګه د دغو ځایونو د تشریح حق نه
اداکوي ، لکه په بنی اسرائیل سورة کی
د قرآن له تلاوت سره د تهجد ولپارد د (به)
ضمیر کارول شوی دی ، او په سوره المزمل
کی خو واضح شویدي ، چی د شپې په
اوږد وکې بنه په استقامت قرآن عظیم
لوله ، خو کوم کسانو ته چی تل د تهجد
لمانځه داداکولو نعمت په نصیب کیږی ،
د هغوی عمومی عمل همدا لیدل شویدی ،
چی د نورو عامو نوافلو په څیر د تهجد وداتـ
رکعته لمانځه وروسته په نورو اوراد او وظایفو
مشغولیږی ، چی په نتیجه کی یی د تربیی ،
تزکیی او په قرآن کی د دقت کولو هغه
هدف نه ترلاسه کیږی ، د کوم لپاره چی
د ډیروخت ودریدو سره په ورو ورو
د قرآن لوستلو ارښوونه شویده ، په سوره

مریم کی د(بې) له ضمیر سره همداقرآن کریم دویرولو اوزیري ورکولو وسیله گرځول شویدی .

ځوزموږ زیاتره مبلغین او ویناکوونکي دغه هدف لپاره دقرآن په ځای داولیاء کرامواوشاعرانو وینا وي کاروي .

دجهادپه باب په افکاروکی زیاتی ناسمی میندل کیږی ، ترټولو لومړی غلطي داده چی جهاددجنگ اووژنی هم ماناګڼل شوی ، حال دادی چی په قرآن مجیدکی په مستقله توگه دجهادفی سبیل الله اوقتال فی سبیل الله دوه جلاجلا اصطلاح گانی استعمالیږي ، خوزموږپه دینی ادبیاتوکی په عمومی توگه دجنگ ددرجواومزحلو دبیان په ترځ کی جهاد دمجموعی عنوان په توگه استعمالیږی ، نوددغه بی احتیاطی نتیجه داده ، چی جهادارقتال یودبل سره هم معنی اوهم ردیف وګڼل شول ، ددغه غلطتیاله منځ نه یوه بله منځته راغله ، لکه څنگه چی جنگ تل نه وي اوبیا هرڅوك په جنگ کی شاملیدای نه شي ، نوځکه جهاد دفرض عین له درجی نه راټیټ شو اودفرض کفایی درجی ته راغی ، یعنی څومره کسانوته چی اړتیا وه هغوی لاړل دنوروخلکوله لوري هم فرض اداکړای شو ، دظلم له پاسه ظلم خوداشوچی موږمسلمانانو هرجنگ جهادفی سبیل الله گڼل پیل کړل . مسلمانوشاهانو چی یوازی دخپل اقتدارد پراختیالپاره جنگونه وکړل هغی ته هم جهادویل کیږی !!!

زموږپروړاندی درسول اکرم (ص) روښانه حدیث موجوددي « یوسړی له هغه (ص) نه پوښتنه وکړه چی یوسړی دغنیمت دمال لپاره جنگ کوي ، یو سړی دخپلي مشهورتیالپاره جنگ کوی ، یوسړی دخپلي قبیلی دسرلوړی لپاره جنگ کوي .

پیغمبراکرم (ص) یی په ځواب کي وفرمایل « یوازی دهغه جنگ بهرخدای (ج) په لاره کی وي چاچی دالله (ج) دکلمي دلوړاوی له پاره جنگ وکړ، دبخاری اومسلم ددغه متحدانه روایت په رڼاکی دجهادفی سبیل الله مفهوم په واضحه توگه مخی ته راځی، یوڅه دخپلو اویوڅه دپردیودمهربانی له امله دجهاداوقتال اسلامی افکارچی څنگه سره گډوډشول ، او دناسمیوکوم امبارچی پری واچول شو، دهغی دلری کولو اوصحیح مفهوم په ذهن کی کښینولوته اړتیاده .

په عربی ژبه کی چی دجهاد اوقتال په وزن کوم الفاظ جوړیږی ، په هغی کی په عمومی توگه ددوه اړخیزی مقابلی مفهوم میندل کیږی ، قتل یویواړخیزکاردی ، خوکله چی دواړه ډلی دیوبل وژلولپاره سره مخامخ کیږی ، هغی ته قتال ویل کیږی ، په دی ډول کله چی ددوه ډلوترمنځ اړوپیچ وي او هڅی یی تکرکوي هغی ته جهادوایی :

نبی اکرم (ص) ته چی الله تعالی دقرآن په وسیله دکوم جهادحکم ورکړیدی دهغی دری مهم اړخونه دي ، دجهاد بالقرآن دغه دری مرتبی په اصل کی دمؤمن بنده ددینی فرایضوددري اړخونو شرحه اوتفسیردی ، په خبره دپوهیدلولپاره ددینی فریضو دغه دری پړاوونه موږیودری منزله عمارت هم گڼلای شو .

دلومړی پړاوجامع عنوان د(رب بنده گی) ده، یعنی پخپله دخدای (ج) بنده کیدل اودهغه (ج) په وړاندی دمننی سرټیټول ، قرآن دعبادت دمفهوم د تشریح کولو لپاره داسلام ، اطاعت اوتقوا اصطلاحات استعمال کړیدی ، لاچی پخپله دانسانانو اوپیریانودپیداکولو یوازینی هدف هم قرآن عظیم همداعبادت گڼلی دی ، دالله تعالی فرمان دی چی ، موږانسانان اوپیریان نه دی پیداکړی مگردخپل عبادت لپاره .

ددغه لومړي پړاودطی کولو لپاره مؤمن بنده په دري محاذونو له جهاد اواړوپیچ سره مخامخ کیږی ، ترټولولومړی کشمکش یی له خپل نفس سره وي .

پخپله دانسان غوښتنی یی بدی ته هڅوي ، دخدای (ج) رسول (ص) دنفس پرخلاف جهاد ترټولو غوره گڼلی دی ، په یوځای کی هغه (ص) وفرمایل ، « دخپلو نفسی غوښتنوپرخلاف داسی جهادوکړه څنگه یی چی ددښمنانو پرخلاف کوئ » دتبوك له سفرنه دراستنیدو پروخت یې

داهم دسروکافروپه بمباردویجارشوی کور

صحاب کرامو ته په ویناکی وویل چی : موږ له کوچنی جهادنه دسترجهادپه لوری راروان یو، دنفس سره دجهادله پړاونه دتیریدوپرته دمخکی تللو کوښښ تربی عقل زیات نه دی .
دانسانی غوښتنودقوی کولو لپاره نه لیدل کیدونکی ځواک شیطان دی، کارییی دادی چی هغه نفس قوی کړی چی انسان دبدیولوری ته مایلوی، په قرآن مجیداواحادیثو کی په بی شمیره ځایونوکې په بیلابیلوشکلونو دشیطان دغولونی او تیرایستنی څخه دځان ساتلو ټینګارشوی دی .
الله پاک (ج) شیطان دانسان ازلی اوابدی دښمن وګرځاوه اوپیغمبراکرم (ص) وفرمایل چی شیطان دانسان په وجودکی دوینی په څیرحرکت کوي دالله تعالی دبنده ګی اختیارونکیو دشیطان اودهغه له اولاد سره خامخا مخامخ کیدل دي، شیطان ته له ماتي ورکولو پرته داطاعت اوبندګی پړاونه وهل کیږي،
دالله تعالی دبنده ګانو دریم اړوپیچ (کشمکش)دخپلی ورانی ویجاړی ټولنی او چاپیریال سره منځته راځی، ټولنه انسان له خپل ځان سره بیول غواړی، اوله هغی سره تلل هم آسان دي، ځکه چی ژوندله آرام اوسکون سره تیریږي خوکه بنده دخدای(ج) دبنده ګی لاره اختیارکړي، نوهغه به دټولنی په مخالف لوري کی حرکت کوي، په ټول ژوندانه کی یی له جنګ سره مخامخ کوي، اوخپل ځان دګردو دملامتیااوسپکاوي وړګرځوی، چی کله هم انسان درب العزت دبنده ګی کوښښ کوي، نودخپل نفس، شیطان او دخپل چاپیریال اوټولنی پرخلاف به دسخت کشمکش اوجهاد سره مخامخ کیږی .
دجهاد بالقرآن دویم منزل پرخلکوګواهي لل دي، یعنی دحق دین پیغام ترخلکورسول، موږته په قرآن کریم کی ددغه کارلپاره ځلوراصطلاحات په نظرراځی، لومړنی دوه اصطلاحات دعوت اوتبلیغ دي، چی مسلمانان ورسره په عامه توګه آشنادی، دتبلیغ معنی ده دالله (ج) پیغام رسول، اوددعوت معنی ده دخدای(ج) لوری ته خلك رابلل، داپه اصل کی دیوه کاغذدوه مخونه دي، په قرآن کی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لارښوونه کیږی چی « ای پیغمبر(ص)هغه رسوه هغه څه چی پرتانازل شوي دي دخپل رب له لوري »
دخدای (ج) رسول صلی الله علیه وسلم دحجه الوداع پروخت امت ته دتبلیغ دفریضی دسپارلو په ترڅ کی وه فرمایل: زماله لوری یی وه رسوئ که څه هم یوآیت وي، قرآن دبلنی بنسټیز اصول داتهاکلي دي چی، بلنه دې دالله تعالی داطاعت اوبنده ګی په لوري وي، دکوم فقهي مسلك یاکومی ډلی رنګ دې په کی شامل نه وي، څوك چی بلنه ورکوي هغه دي پخپله ددعوت دغوښتنوعملی څیره وي، اوکله چی بلنه ورکوونکی پخپله پرې عمل نه کوي نو دنورو پام به څنګه دخپل دعوت لوری ته راوګرځوی .
ددغه لړی دریمه قرآنی اصطلاح « امربالمعروف اونهی عن المنکر» دی یعنی په نیکیوامرکول اوله بدیومنع کول، په قرآن اوحدیث کی زیات زوردبدیوپه منع کولوورکړای شوی دی . دخدای (ج) رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی .(ای مومنان) له تاسی چی څوك کوم انکارکوونکی ووینی، پرهغه لازمه ده چی دلاس په « قوت » یی منع کړي، که دزورتوان یی نه لاره په ژبه دي ورته

نصیحت وکړي ، اوکه دایی هم له توانه
پوره نه وي ، نولږترلږه دې په زړه کی
بدورته وګوري او دادایمان ضعیف ترینه
پوړی ده »
له یوه روایت سره سم هغه صلی الله علیه
وسلم وفرمایل : « که په زړه کی له
بدیونه دکرکی احساس هم پاتی نه شو نو
پوه شه چی په تاکی دغوښت ددانی
اومره ایمان هم نشته »
دپیغمبراکرم (ص) ددغه مبارك ارشاد په
وسیله په دین کی دنهی عن المنکر»
اهمیت ښکاره کیږي .
دایمان په باب یی هغه معیاراوپیمانه
زموږمخی ته ایښی ده،و چی هرڅوك پری
خپل ایمان تللای شي .

په قرآن کی ځلورمه اوجامع اصطلاح «
شهادت علی الناس » استعمال کړای
شویده، دشهادت علی الناس دفریضی په
اداکولو دامت اړیکی درسالت له کارسره
تړل کیږی ، حضرت محمدمصطفی
وروستنی پیغمبراوامت یی وروستی امت
دی ، اوس ګردانسانیت ته دالله تعالی
دوروستی پیغام درسولومسئولیت ددغه
امت پرغاړه دی ، الهی ارشاددی : « ای
مسلمانانو!» مونږه تاسی غوره امت (وسط
امت ګرځولی یاست ، ددی لپاره چی
پربشریت ګواهان اوسئ او رسول (ص)
پرتاسی ګواه وي » پیغمبراکرم صلی الله
علیه وسلم دحجه الوداع پرمهال دیولك
پنځه ویشت زره ایماندارو کسانو له غونډی
دری کرتی ګواهی واخیسته چی آیا مادالله
تعالی پیغام ترتاسی راورساوه، ګردوخلکو
په یوه ژبه اویوآوازګواهی ورکړه چی تاسی
درسالت دکارحق اداکړ، تردې وروسته
پیغمبراکرم (ص) دری کرتی دآسمان
لورته ګوته ونیوه اودرې ځلی یی وفرمایل
چی ای الله (ج) ! ته هم ګواه اوسه چی
ستا پیغام می ستاتربنده ګانوورساوه .
دغه دګواهی، منصب که هرڅومره ددغه
امت لپاره یوستراعزازدی ، همدومره
سترمسئوولیت هم دی ، که موږددغه
مسئوولیت حق ادانه کړنودقیامت په ورځ
به دټول انسانیت دبی لاري مسئوولیت
زموږپرغاړه وي ، او دالله تعالی رسو ل به
زموږپرخلاف ګواه ورکوونکی ولاړوي .
قرآن دین ته دبلنی دری پوړی بیان
کړیدی ، ربانی ارشاددی : (ای نبی) بلنه
ورکړی دخپل رب دلارې لورې ته له
پوهی اوحکمت سره اوله غوره
پنداونصیحت سره او«
ښېګارکوونکیواوضدی » انسانانوسره
مجادله وکړئ په ډیری ښی طریقی سره »
په هره ټولنه کی دری ډوله کسان میندل
کیږی ، دذهینواوپوهوکسانو شمیرکه څه هم
لږوي ، خو هغوی په ټولنه کی داغیزمن
اوکاروونکی ځواك حیثیت لري ، دغه ذهین
کم شمیری «   » دخپلی ټولنی
مشران اورهبران اوسی او دټولنی تګلوري

ټاکی، که دټولنی دغه کوچنی ذهینه ډله
دوخت او حالاتوسره سمه په غوره طریقه
اوپه علمی اوفکری ډول راونه بلل شی
اوبلنه ورنکړای شی نوله کومی بلنی
اودعوت څخه یوه ټولنه هم په اجتماعی
ډول اغیزمنه کیږی نه ، دغو خلکو ته
ددعوت درسولولپاره الله تعالی دپوهی او
حکمت دلاری اختیارولو لارښوونه کړیده .
ددعوت په دویمه درجه کی دټولنی
عمومی اکثریت راځی ، دی ته موږدبلنی
عمومی اوملی سطحه هم ویلای شو.
دخلکواکثریت ته ددلیل اوحجت اړتیا نه
وی ، دهغوی لپاره غوره اوزره
کښیناستونکی پنداونصیحت کافی دی .
قرآن عظیم ورته « موعظة حسنة» ویلی ده
، په دی سطحه کی پرواعیظینو اونصیحت
کوونکیودخلکواعتماداوباوربنسټیزاهمیت
لری ، داسی نه وي چی نوروته نصیحت
کوونکی خپل ځانو نه هیرکړی ، دموعظة
حسنة او صالح عمل یوځای کیدل
دبلونکی کردارتشکیلوي .
وعظ پخپل ځای یو ستراواغیزمن شی
دی ، خوداپخپل وخت او ځای پکارراځی
دلوړوزده کړودڅښتنانو په نزد
دښکنځلوحیثیت لری ، همداډول دملت
پروړاندی دپنداونصیحت پرځای ددلیل
اوفلسفی خبری کول هم حماقت دی ،
هرڅیزپخپل صحیح ځای کیښودل عدالت

ددعوت بنیادي حکمت همدادی چی کوموخلکو ته چی دعوت ورکول کیږی ، دهغوی ذهنی معیارباید تل په نظرکی ونیول شی .

ددعوت اوتبلیغ دریمی پوړی ته قرآنکریم «مجادله » ویلی ده ؛ یعنی دناپوهو او ضدی خلکوسره په صحیح توگه مجادله وکړه » .

دبلنی دغه سطحی لپاره دینی پوهانو مناظری ته دیوه دیوه فن مرتبه ورکړیده ، اودهغی ځانگړی تخنیك یی ترتیب کړیدی ، په هره ټولنه کی داسی خلك وی ، چی گټی یی له باطل نظام سره تړلی وي ، کله چی ددعوت دخپریدوله امله هغوی ته دخپل نظام ویجاړتیاپه نظرراځی ، نویی دساتنی لپاره ضدیتوب اوبی لاریتوب لاره اختیاروی ، هغوی نه یواځی داچي دحق له پیژندلو سره سره هغه نه مني ، بلکه دحق دمخه نیونی لپاره اودخلکودبی لاری کولو لپاره ددین دبلنی په مقابل کی دخپل باطل نظام دحق ثابتولولپاره دلایل وړاندی کوي ، ددغوخلکودمقابلی لپاره ددعوت دادریمه پوړی هم لازمی ده ، زموږدنوروډیرو چاروپه څیردمناظری په میدان کی هم ډیری ناوړتیارامنځته شویدي ، خوله اړتیااواهمیت نه یی انکارنشی کیدای .

څوك نه پوهیږی چی زموږپه ټولنه کی دعیسویت لپاره کارکیږی ، همداډول په یووخت کی قادیانیت په بلنواله سویه ډیرفعال و ، اومبلغینویی دمناظری په فن کی خورامهارت لاره ، ددغه ډول فتنودمقابلی لپاره که موږ خپل ذهین وگړی نه روزواوله باطل سره دمقابلی لپاره یی نه تیاروو ، نو باطل ځواکونه به رابانددی واکوال شی ، هندته چی دانگریزانو له راتگ سره سم دعیسویت کوم سیلاب راغلی و ، دینی پوهانویی دمناظری په وسیله مقابله وکړه ، یوه عیسایی « پادری » ، « فینډر » په هندکی یوتوپان راولاړکری و ، نوکه مولانارحمت الله کیرانوی علیه الرحمه یی مقابله نه وای کړی ، نردي امکان موجودوچی هندوستانی مسلمانان دعیسویت په سیلاب کی لاهوشوی وای . پادري فینډرله هندوستانه وتښتید ، ترکیي ته ولاړ ، عثمانی خلیفه مولاناکیرانوي ترکیی ته راوه غوښت کله چی مولاناترکیی ته ورسید ، له هغه هیواده هم وتښتید .

نن خلك دمناظری یادونه ډیره په سپکاوی سره کوي ، حال دادی چی داددعوت اوبلنی یومهم اړخ دی ، قرآن عظیم الشان هم په دی باب موږته دځانگړی اخلاقی معیاردقایم ساتلوامرکړیدی .

که غواړوچی دبلنی اودعوت کارپه یوه غوره اواعلی جمله کی بیان کړو ، نووایوچی « علم مسلمانول » زموږعلم ملحدشویدی ، علامه اقبال په ډیرښه شکل دغه حققت تشریح کړی دی .

عشق کی تیغ جگرداراړالی کس نی !
علم کی هاته مین خالی هی نیام ای ساقی
.

یعنی دعشق هغه تیره توره چایوړه ، چی اوس دعلم په لاسوکی تش تیکی دی ؟

زموږدعلم له تیکی یی دالهی معرفت توره وه ایسته اودالحادخنجریی په کی کیښود ، ددغه علم مسلمانول آسان کارنه دی ، خلك دتعلیمی نظام دبدلولوخبري کوی ، ددی نظام بدلول دومره گران کارنه دی ، داخودروزنی یوه وسیله ده ، پوښتنه داده چی زموږ سره اسلامی پوهنه له کومه شوه ؟

نوربیا

موږباورلروچی نړیوال له موږسره په دي درداوغم کي شریك دي خودېښتوزبي متل دي چي : " په اورهغه ځاي سوځي چي پري بلیږي " .

ملنگیار

نظم مسدس

د جهاد دتاریخ ښکلی :
چې راغلی داسی تلی
ناامیده غابښ وتلی
چې کاره یې راته کتلی
بریښ دتوری ژړولی
دجهان خلکومنلی
دجهاددتاریخ ښکلی
مکناټن دوخت غدارهم
بریدن داکترپلارهم
دکابل بالاحصارهم
داکبر دتوری وارهم
دهمدی خاوری یادگارهم
موږپه زړونوکی ساتلی
دجهاددتاریخ ښکلی
بت شکن محمودچی یادشی
دباطل ویجاړبنیادشی
مسلمان پری ویاړی ښادشی
فکرتول جهاد جهادشی
خوږوطن به موازادشی
لروبیرداښی ښاغلی
دجهاددتاریخ ښکلی
بل احمد دریادومه
لوړتاریخ بیا نومه
دړهلی تخت هیرومه
خپلولوړوغروته ځمه
دتکبیر چغی وهمه
احساسات راپاریدلی
دجهاد دتاریخ ښکلی

دښکاری فریدوخواته
زړوړسوری شیرشاته
قلم داسی وایی ماته
نومیالی یادکړه دنیاته
هرملاتړدحق سباته
تاریخ څنګه نوموړی
دجهاددتاریخ ښکلی
یی ددین دجمال شمعه
ستاله پوهی لروتمه
دحق علم له کرمه
موږموندلی دژوند دمه
یاددی لولوله قلمه
موږته تادیرڅه ښودلی
دجهاددتاریخ ښکلی
ځوان شهیدحبیب الرحمانه
داسلام بنیادی ځوانه
دآموله لوی توپانه
حق اوښتی په اسانه
دلینن خونه ده ورانه
عام اوخاص پری پاځیدلی
دجهاددتاریخ ښکلی
الاالله موعقیده ده
یوالله (ج) ته موسجده ده
بندګی موداسی زده ده
آزادي موله بنده ده
چاچی کړی داوعده ده
پاك هدف ته رسیدلی
دجهاددتاریخ ښکلی
دمیرویس نیکه په لاره
دملحددمرګ لپاره
فال می دادی له اشعاره
پری وردانګی سم له واره
پاك تكبیر دی ملنګیاره
دښمنان دی تښتولی
دجهاددتاریخ ښکلی

استاد "بیرنگ"

شهیدکرار

تادوستی دولتیان باکفارشد
آزادی ازعقیده ودین رویکارشد
شاه عیاش بهردوام بقای خویش
اودکابکف گرفته وبی اختیارشد
فرزندزامرولد خودسرکشی نمود
همسربه ذوق خویش پی کاروبارشد
دختربه حزب پرچم ومادربخلق رفت
نوکربه شعله سوخت زبس بیقرارشد
جمعی زدردوعقده برفتند درستم
جمعی دگربنام ملت چون غبارشد
خیل دگربنام مساوات مردوزن
درسازش حکومت سرمایه دارشد
چندین گروهك اگر آمدبرویکار
نظم ازمیان برفت همه دیوانه سارشد
توهین بدین ومذهب اسلام شدروا
عفت زبین رفت وادب نابکارشد
نوخانگان مکتب قرآن بکارشد
پروانه وارمردم مومن ازهرطرف
بردورعاشقان خداجانسپارشد
سردارهاشدندچوهمه مایه فساد
دشمن درین میانه پی ابتکارشد
تازمیان این همه عیاش وجاه طلب
داودخام به نقشه شان عهده دارشد
شاه دغل برغم تجاهل به غرب رفت
سنجیده بودعاقبت خودکنارشد
دریك شبی به مسندشاهی جلوس کرد
دویوانه ترزقدرت بی اعتبارشد
ازحرص وآزنفس به آئین خودسری
بابیرك واناحیته اوبی وقارشد
هرکس که بودضدکمونست بکشت وگفت
بادشمنان ملت ماهمقطارشد
ناگاه گرفت مرشدخیل جوان را
کزنرقتش دودیده ماشکبارشد

یعنی حبیب حضرت رحمت بصدجفا
باهمرهان خویش شهیدکرارشد
صدهاجوان عاشق دین محمدی (ص)
درشهرده مزنگ بمیان حصارشد
درخاتمه زدست رفیقان خاص خویش
اندرسریرقدرت خود تارومارشد
آمدغبی کافردیگربروی کار
انسانیت گذاشت بکلی حمارشد
بعدازقتال ووحشت واغواوملحدی
آن هم زدست پیروخودسوی نارشد
شاگردنبودکمترازاستادبکافری
ازفرط ظلم ابتروبی اقتدارشد
جنرال زاده خادم دیرین خاندان
باصدهزارروس لعین آشکارشد
پیروجوان وطفل وطن غرقه شدبخون
ملیون شهید علاوه به پنجصدهزارشد
این بودکارشاه وغلامان جانیش
تافردفردملت ماداغدارشد
جمع مجاهدان بدفاع ازحریم دین
درجنگ عادلانه زحق کامگارشد
سازوبرگ جنگی آدم کشان روس
ازشعله های آتش خوددرشرارشد
ازلطف خاص قادروقیوم ذوالجلال
آن لشکر خبیث لعین درفرارشد
درسی گرفت جهان زتوای ملت غیور
تاروسیان زدست توزارونزارشد
بی شبهه توسرحلقه مستضعفان شدی
تاپایمردی ات به جهاداستوارشد
افتادگان بپاشدند اندرمظاهرات
نابودی نظام کمونست شعارشد
صدهاهزاربرده ومایوس بی پناه
برضدکمونست همه درگیر ودارشد
سدوحصارضدبشرریخت ازنهاد
اقوام دورگشته زهم درکنارشد
لیکن زمکرشاه وغلامان اوهنوز
بی رنگ زدردوتفرقه درانتظارشد

٧٨٦
S. Enayatullah Naw...
عنایت الله ((نوید))
Date: ....

د مسلمان وژلو جريمه

★ هغه احاديث چې د مسلمان له وژلو او له هغو لارو چارو نه چې پردې کار دلالت کوي۔ مسلمان ایساروي:

ډیر احاديث چې په لوستلو يې د انسان غوني زیږه کیږي او رګ، رګ يې په لړزه راځي روایت شوي چې د مسلمان له وژلونه خلک ایساروي او د وسلي د ویستلو خطرناک انجام چې مسلمان يې د خپل مسلمان ورور په مخ کې راوباسي که څه هم د ټوکې له مخې وي ټولو مسلمانانوته ښيي راځي چې په ګډه دغه نبوي ملغلرې له سترګو تيرکړو او د زړه په تل کې د ژوندانه د ابدي لارښود مثال په توګه ورته ځای ورکړو.

ابن عدى او بيهقي له ابن عمر رضي الله تعالى عنهما څخه روایت کړي دي چې رسول الله (صلی) وفرمایل:

(من أعان على دم امرئ مسلم لينظر كلمة كتبت بين عينيه يوم القيامة: "آيس من رحمة الله تعالى")

(يعني: هغه څوک چې د مسلمان د وينې تويولو لپاره له بل چاسره مرسته وکړي، خامخا به د قيامت په ورځ د خپل دوو سترګو په مينځ کې وګوري چې ليکل شوي دي: (د خداي (جل جلاله) له رحمت څخه نااميدا).

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

همدارنگه ـ همدغه دوو راوَیانو په بل ځاي کي له براء بن عازب رضي الله تعالی عنه څخه روایت کړي دي چي رسول الله (صلی) وفرمایل:

(لزوال الدنیا ومافیها أهون عندالله من قتل مؤمن ولوأن أهل سماواته وأرضه اشترکوا في دم مؤمن لأدخلهم الله تعالی النار).

(ژباړه: البته د دنیا له مینځه تلل او هرهغه څه چي په ده کي دي، خداي ته ډیر آسان کار دي د مسلمان له وژل کیدونه ـ او که چیري د خداي د اسمانونو او مځکي اوسیدونکي د یو مسلمان د وینې په تویولو کي سره شریك شي، بي له کوم شکه ـ الله (جل جلاله) هغوي ټول په دوزخ کي ننباسي).

او د اصبهاني په روایت کي چي له ابن عمر رضي الله تعالی عنهما څخه یي کړي دي راغلي دي چي پیغمبر (صلی) وفرمایل:

(لو أن الثقلین اجتمعوا علی قتل مؤمن لأکبهم الله تعالی علی مناخرهم في النار وإن الله تعالی حرم الجنة علی القاتل والآمر.)

(ژباړه: که چیري ثقلین (انسانان او پیریان) د یو مؤمن په قتل کي سره راټول شي (د مزستي لاسونه سره ورکړي)، حتمي ده چي الله (جل وعلاشانه) دوي ټول په دوزخ کي نسکور راغورځوي او الله (جل جلاله) په قاتل او د قتل په امر باندي جنت حرام کړي دي).

★ وسلې ته داشاري حرمت

په یو صحیح حدیث کي چي نسایي، ابوداؤود او طیالسي له ابوبکرة رضي الله تعالی عنه څخه روایت کړي دي راغلي دي چي رسول الله (صلی) وفرمایل:

(إذا أشار الرجل علی أخیه بالسلاح فهما علی جرف جهنم فإذا قتله وقعا فیها جمیعا.)

(یعني کله چي یو سړي د خپل ورور خواته په وسله باندي اشاره وکړي، نو هغه دواړه دوزخ کي داخلیږي او که چیري هغه سړي ووژني ـ دواړه په دوزخ کي لویږي).

او په بل حديث کي راغلي دي چي:-

(لايشرأحدکم الى أخيه بالسلاح فانه لايدري أحدکم لعل الشيطان أن ينزع في يده فيقع في حفرة من النار).

(رواه البخاري ومسلم)

(يعني: ستاسي يوتن دي خپل ورورته په وسلي باندي اشاره نه کوي، ځکه هغه نه پوهيږي - امکان لري چي شيطان د هغه لاس خطا کړي او د دوزخ په کنده کي ولويږي).

دا حديث بخاري او مسلم رحمة الله عليهما روايت کړي دي.

★ د ملايکو لعنت دي پر هغه چا وي چي په وسلي باندي له خلکو سره ټوکي کوي:

رسول الله (صلى) فرمايلي دي:

(إن الملائکة تلعن أحدکم إذا اشار بحديده وإن کان أخاه لأبيه وأمه.)

(رواه مسلم)

(معنى دا چي: بي شکه ملايکي ستاسي يوتن باندي هغه وخت لعنت وايي چي کله په تيره وسله باندي چاته اشاره کوي (مقابل لوري ته نيسي) که څه هم هغه شخص د ده پلارني او مورني وروروي).

دا حديث مسلم روايت کړي دي.

دغه احاديثو ته اعتنا نه کول او پري نه عمل کول ډيري ستونځي را مينځته کوي او ډير انسانان يي تلف کړي دي، ځکه ډير ځله داسي پيښيږي چي انسان فکرکوي چي د ده په ټوپک کي مرمي نشته او په دي گومان سره خپل وروړته يي آړوي او پرماشه باندي گوته کيکاږي او خپل ورور وژني، نو په هغه وخت کي بيا په خپل دي کار باندي پښيمانيږي.. په داسي حال کي چي پښيماني کومه گټه ورته نه کوي لکه چي يوه سړي په همدي توگه خپل مور وواژه.

« ان الله یأمرکم أن تؤدوالامانات إلی أهلها» دمبارك آیت دحکم سره سم مسلمانان پخپل انتخاب کی باید په نظرکی ولري چی داسی کسانو ته رایه ورکړی چی باتقوی ، عادل ، پوه او دپوره اهلیت خاوندان وي .

ددریمی پوښتنی ځواب :

پخوا موویل چی منصوصی قطعی شیان دشوری کولو ځای ندی چی کول او یانکول یی له مناقشی لاندې ونیول شی خو که څوك داسلام احکام دهغو دحقانیت داثبات په خاطرتجربه اوتحلیلوي داکار مطلوب کاردی ددعوت جزبلل کیږي ،

داموهم وویل چه مشوری په هغو مواردو کی کیږی چی هلته دحق او مفاد لوری ظني وي څوك په یقین سره دحق او ګټی لوری ونه پیژنی او شوری مو په اصطلاح کی داسی تعریف کړه :

په موضوع کی له واردو او باتجربه کسانو څخه غوښتل ترڅو هغی رایی ته ورسیږی چی حق ته زیاته نیږدی وي .

دپورته مطالبو په نظرکی نیولو سره ددی پوښتنی په حواب کی وایوچی :

۱ـ په منصوص قطعی ثابتوشیانو کی شوری نه شی کیدلای په دی صورت کی هرڅوك مکلف دي چی دشارع حکم په ځای کړی حکه په اسلام کی سیادت او حاکمیت شرعی لره دی ولس یی دتغییراومخالفت حق نه لری .

۲ـ داولې شماری له مطلب نه پرته نورټول اموردشوری لپاره موضوعات ګرځیدلای شی مثلاً :

الف : دشرعی مقرراتو په چوکات کی دننه دجنګ ، سولې اومعاهدو په باره کی شوری کول .

پاتی په (٦٨) مخ کی

په اسلام کې حکومتي نظام

قاضي محمدحکيم

په تیرپسی

لومړی مطلب خلیفه :

و: امت به خلیفه څرنګه ټاکی ؟ کله چی داخبره مسلمه شوه چی دخلیفه ټاکلو حق دامت سره دی ، پاتی شوه داخبره ؛چی هغه به داحق څرنګه استعمالوی آیاږهغه په ټاکلوکی به دامت ټول افراد مباشرتاً برخه اخلی؟ اوکه دامت په نمایندګی به یوه خاصه ډله داکارسرته رسوي .

حقیقت دادی چه په اسلام کی دخلیفه ټاکلولپاره کوم چوکاټ بند شوی نظام نه لرو اوددی معنی داده چی داکارامت ته سپارل شویدی هغه چی کومه طریقه دخلیفه ټاکلو لپاره خوښه کړی کولای ئی شي، که وغواړی چی په مباشره توګه دخلیفه انتخاب وکړی پدی معنی چی دامت ټول افرادپرته له هغو کسانوچی شرعی دلیل مستثنی کړیوی لکه کوچنیان ، لیونیان اونامسلمانان دهغه په انتخاب کی ګډون وکړی کومه مانع نلری . اوددی طریقی لپاره دقران کریم داآیت دسندپه توګه په لاس کی لروچی فرمائی :« وامرهم شوری بینهم «الایه» ترجمه : « دمسلمانانو کارونه ددوی په منځ کی دمشوری په اساس سرته رسیږی » دنوموړی نص ، ظاهرپه دی خبره ښکاره دلالت کوی چی مسلمانان په خپلومهموکارونو کی دشوری اصل ته په عمیق احترام قائل دی اوپدی کی هیڅ شك نشته چی دخلیفه ټاکل دمسلمانانو دسترو اومهمو کارونو څخه دی . اوموږددی خپلی ویناپه تأئیددنوموړی آیت په تفسیرکی دامام رازی قول رانقلووچی په خپل تفسیر کی داسی وائی:« کله چی به کومه مهمه پیښه وشوه نوصحابه،

کرام (رض) به سره راټول شول اوپه
خپلومنځونوکی به سره په مشوره بوخت
شول نوځدای تعالی دوی وستایل . چی
دوی په رای کی ځانګړیتوب نکوی
اوترهغی پوری دیوکارعزم اوتصمیم نه نیسی
ترڅو چی ئی په خپلو منځوکی سره
مشوره نه وی کړی .

په همدی ډول امت ته داهم جائز اورواده
چی په غیرمباشره توګه دخلیفه په انتخاب
کی دخپل حق څخه استفاده وکړی یعنی
دنیابت اونمایندګی له لاری داکارسرته
ورسوی اوددی طریقی لپاره په تیرو
تاریخی سوابقوکی دراشده خلفاو
دعمر تعامل دسندپه توګه زموږپه مخ کی
پروت وے کوم چی هغه عصرپه اسلام
باندی دپوره پوهی اوهم تطبیق له لحاظه
خوراغوره عصرګڼل شی . ددغو
قدرمنوخلیفه ګانوانتخاب دمسلمانانو دیوی
داسی ډلی له خوا سرته ورسید چه
فقهاوئی دحل اوعقد دخاوندانو په نوم
نوموی اوپه مدینه منوره کی
نورموجود مسلمانانودهغوی له دغه انتخاب
نه پیروی وکړه اوڅوک چی هغوی خلیفه
ټاکلی و دهغه سره ئی بیعت وکړ. سره
له دینه چی دهغوی په انتخاب کی
ټولومسلمانانو برخه نه وه اخیستی .
بیاوروسته په پرله پسی ډول داسلامی ملك
په ټولو ښارونوکی اوسیدونکو مسلمانانو
دهغوی سره بیعت کړیدی . اوپر دغی
طریقی باندی نه دراشده خلیفه ګانو او نه
دکوم بل چاله خواکوم اعتراض مونږته
رانقل شویدی چی داکاردخلیفه دانتخاب
په هکله ددغی طریقی پرصحت باندی
ددوی داجماع اواتفاق قائم کیدو
څرګند دلیل دی .

داطریقه پدی بنا هم دتأیید وړبلل
کیږی چی مونږ ترمخه وویل چی امت
دخلیفه دانتخاب په هکله دحق خاونددی
اودحق خاوند داختیارلری چی دخپل
حق څخه په خپله په مباشره توګه استفاده
کوی اویاکه دخپل وکیل اونماینده په
ذریعه پدی معنی چی دخلیفه په انتخاب
کی کوم څوک خپل نائب اووکیل وټاکی
فقهاء کرامو هم پدغی طریقی دانتخاب
باندی صراحت کړیدی اوتأییدکړی ئی ده
لکه چی ابن خلدون په خپل مقدمه نومی
کتاب کی داسی لیکی :« کله چی داخبره
څرګنده شوه چی دخلیفه منصب دامت په
اجماع سره واجب دی نوهغه دکفائی
فرضونو څخه ګڼل کیږی او دعقد اوحل
خاوندانو تعیین او اختیارته راجع کیږی
پس پرهغوی باندی دخلیفه ودرول لازم
دی اوپرخلکوباندی دهغه نه اطاعت واجب
دی .»

ز: دعقداوحل (ټولواوپرانستلو) خاوندان
:

۱ـ کله چی دخلیفه ټاکل دامت حق
وګڼل شو اوهغه کولای شی چی لدغه حق
څخه داهل حل اوعقد له لاری استفاده
وکړی . اوس داخبره ضروری ده چی پوه
شوچی دعقد اوحل خاوندان څوك دی ؟
او دامت سره دهغوی علاقه څه ده ؟ او
هغوی څرنګه دغی مرتبی ته رسیدلی شی ؟
هرچی اوله پوښتنه ده هغه داچی دحل
اوعقد خاوندان څوك دی ؟ نوفقهاوء
دهغوی لپاره څه عام او صاف ذکرکړیدی
هغه لومړی عدالت دی چی دخپلو ټولو
شرائطو لرونکی وی . دوهم هغه پوهه ده
چی دهغی په ذریعه دامامت وړاومستحق
شخص پیژندلی شی . دریم رای
اوحکمت دی چی دهغی په وسله داسی
کس چه دامت لپاره اصلح اودامت
دمصالحوساتونکی اودپوره تدبیرخاوندوی
وټاکلی شی .

ځینو معاصروفقهاو دحل اوعقد
خاوندانوداوصافو په تحدید کی څه زیات
وضاحت کړیدی ، دتفسیرمنار
مفسررشیدرضا رحمه الله علیه پدی هکله
داسی فرمائی چی:« دامرخاوندان داهل
حل وعقدډله ده او دوی امراء ، حکماء ،
دلښکررئیسان او هغه رئیسان اوزعیمان
دی چی خلك په خپلو حاجتونو او عامه
مصلحتونوکی ورته مراجعه کوی » دامام

یوه مهمه نقطه چي دهرمسلمان لپاره
پوهغي پوهيدل ضروري دي ، هغه داده
چي په اسلام کي دغربي ډيموکراسي
پرخلاف سيادت اوحاکميت دشرعي حق
دي دولس حق نه دي ، خوداسلام
تطبيق اودهغه په چوکات کي
دڅوندااصول اومقررات ټاکل دولس حق
دي هيڅوك يي دغصبولو حق نلري
اونه ولس تري محروموﻻي شي –

رشید رضا. (رح) له نوموړي قول اوهمدارنګه دنوروفقهاو کرامولـه یادو نوڅخه داخبره څرګندیدلی شي چي دحل اوعقد خاوندان هغه کسان دي چي په امت کی دخپلی تقوی او عدالت دشهرت په بنا. له دوی څخه متابعت کیدلی شي او دامت اعتماد ئی ترلاسه کړی وی اودهغـی په منځ کی داعتبارخاوندان وی .

اوهرچی دوهمه پوښتنه ده هغه داچی امت سره دحل اوعقددخاوندانو علاقه څه ده ؟ پدی هکله وایوچی دهغوی علاقه دامت سره دنائب اووکیل علاقه ده ، دوی دامت په نیابت اونمایندګی سره ددولت درئیس یعنی خلیفه په ټاکلوکی ونډه اخلی چی له همدی کبله ددوی انتخاب او ټاکنه پرامت الزام راوستونکی ده .

اوهرچی دریمه پوښتنه ده هغه داچی دوی څرنګه داهل حل وعقد مرتبه ترلاسه کولای شي پدی هکله کومه خبره چی ذهن ته ژر رسیږی داده چی همدااامت دی چی دوی دغی مرتبی ته اوچتوی اودامقام ددوی لپاره غوره کوی ، مګر مونږ په تیروتاریخی سوابقو کی داسی څه نه مومو چی لږترلږه دی خبری ته اشاره

> حقیقت دادي چي په اسلام کي دخلیفه دټاکلولپاره کوم چوکات بندشوي نظام نلرواوددي معني داده چي داکارامت ته سپارل شوي دي ، هغه چي کومه طریقه دخلیفه دټاکلولپاره غوره کړي کولای شي .

وکړی چی امت دی کله سره راټول شوی وی او دخپل منځ نه دی یوه ډله ټاکلی وی او هغی ته دی داهل حل اوعقد صفت ورکړی وی .

سره له دینه چی په یادشوی مسئله کی دتاریخی سوابقو خلاء موجوده ده ولی داخلاء پردی دلالت نه کوی چی کوم کسان هغوی داهل حل اوعقد په نامه بلل هغوی دامت تمثیل نه کاوه اویا ئی امت وکیلان نه ګڼل کیدل . داځکه چی (لکه څنګه چی معلومه ده) وکالت هم په صریحه توګه منعقدکیږی اوهم په ضمنی

> حقیقت دادي چي په اسلام کي دخلیفه دټاکلولپاره کوم چوکات بندشوي نظام نلرواوددي معني داده چي داکارامت ته سپارل شوي دي ، هغه چي کومه طریقه دخلیفه دټاکلولپاره غوره کړي کولای شي .

توګه ، او داسلام په لومړی عصریعنی دراشده خلیفه ګانو په عصرکی داهل حل وعقدوکالت له امت نه ضمنی وکالت و. ځکه هغوی په اسلام کی په تقوی اوسابقی سره مشهوروو او په کارونوکی دتدبیراو پوهی له امله او په عمل کی داخلاص له لحاظه ئی کافی او بشپړباوراوشهرت ترلاسه کړی و . ددی یادشووصفتونو سره سره هغوی ته درسول (ص) دصحبت شرف او فضل حاصل شوی و او الله تعالی په خپل قرآن کی دهغوی ستاینه کړی او په عام اوخاصه توګه دخدای رسول (ص) دهغوی څخه قدردانی کړی ده .

چی له همدی کبله هغوی دامت ثقه والی او اعتماد ترلاسه کړی و او دامت دخوښی او رضایت مراجع وه چی پدی اساس هغه وخت داضرورت نه محسوس کیده چی امت دی دهغوی په ټاکلواووکیل نیولو کی په صریحه توګه تصمیم ونیسی . تردی که چیرته ددوی په انتخاب کی امت په څرګنده توګه اقدام کړی وای نو بیا به هم پرته له دغو نخبه او غوره کسانو څخه کوم چی په اهل حل وعقد سره مشهوروو بل هیڅوک نه وای بریالی شوی بلکی یواځی اویواځی همدغو کسانو به پرته له کوم منازع او معارض څخه دغه مرتبه ترلاسه کړی وای . چی له همدی امله ددوی له خوانه دخلیفه انتخاب په حقیقت کی دامت له خوانه انتخاب ګڼل کیده ځکه چی داانتخاب دامت له طرفه دضمنی وکالت په اساس پای ته رسیده کوم چی دامت له خوادوی ته سپارل شوی و .

ح : په اوس وخت کی دحل اوعقد دخاوندانو پیژندنه :

په اوس وخت کی که امت ونه غواړی چی ددولت رئیس په مستقیمه اومباشره توګه انتخاب کړی بلکی دهغه دټاکنی لپاره په غیرمستقیمه اونامباشره توګه یعنی دخپلو

نمایندگانو په وساطت تصمیم نیسی. نوپدی صورت کی، دامت لپاره داخبره ضروری ده چی دشرعی احکامو سره برابرداسی کسان د دی کارداجرا. لپاره انتخاب کړی چی په حقیقی معنی ددوی نه تمثیل او نمایندگی وکړی اوکوم کسان چی ددی مهم لپاره انتخابیږی بالضروربايد داهل حل وعقدومواصفاتو لرونکی وی. اودولت مکلف دی چی ددی ډول انتخاباتوداجرا اوهم دجعل اوتقلب نه دتحفظ اوساتنی دضمانت په منظور لازم اودرست نظام وضعه کړی او پدی نظام کی دهغو واجبه شردلونوپرتعین تاکیدهم ضروری دی کوم چی داهل حل وعقد شوری دتکوین او جوړښت لپاره دنامزد شوو کسانولپاره لازمی دی. البته دهغو احکامو او مسائلو په رڼاکی، کوم چی فقهای کرامو پدی هکله پیش بیني کړی دی. دغه ډول انتخاب په کوم ترتیب سره چی مونږدهغه یادونه وکړه داهل حل وعقد دمعرفت او پیژندنی لپاره زمونږپه نظرضروری اولازمی خبره ده اوداهل حل وعقد دمجلس تکوین اوجوړښت له هغی پرته نشی میسرکیدلی اوددی خبری نه لابدی ده چی اوس بایدداهل حل وعقد نیابت له امت نه په صریح وکالت سره وی. ځکه چی په حاضروخت کی دامت دافرادو دزیاتوالی له کبله دضمنی وکالت حصول یو متعذراوسخت کاردی. بل داچی که دغه ډول ضمنی توکیل ته اجازه ورکړل شی نو دامت پرمخ به یوه خطرناکه دروازه راپرانستل شی هرج اومرج او خورورو شربه خپلی ریښی وغزوی.

ځکه داهل حل وعقد له شرطونو اومواصفاتو ثخه هرعاطل اوبی برخی کس به هم وتوانیږی چی دځان لپاره ددی مرتبی دعوه وکړی او خپل ځان دامت نه نائب اوممثل وتراشی پدی دلیل چی گویا امت دده پرنیابت ضمناً راضی شوی دی.

سخني به امرا

بقیه

وبه حلقه دام استعماردیگری اسیرنه شوند. درغیرآن به پیشگاه خداوند دادگر وخلق او روی سیاه وشرمنده خواهیم بود.

بیاییدازکرسی ها بگذریم که اصالت انقلاب اسلامی درخطراست. هرکدام مابه اندازه که وزن وتوان داریم خودرا درآینه اسلام ومحك ملت مومن ومجاهد خود که سالها درخون وآتش غنوده اند قراردهیم. ازد من ها» بگذریم که این راه برترکستان است.

تجدیدحیات

بقیه

پیگیری وتقلاتهاراهمراهی کند منزل مقصود نزدیك گردیده وآرمان داعی حق تحقق پذیرمیگردد واگر یکی ازاین سه ستون مهم درتحریك وجود نداشته باشد برای رسیدن به سرمنزل مقصود مستحیل ودورازامکان میاشد.

د اسلام کې د نظام او شورى اصل

پاتې

ب: دخارجی او داخلی سیاست دتعیین په باره کی شوری کول.

ج: داسلامی احکامو دتطبیق په باره کی شوری کول.

د: دمالی نظام دتوجیه او بیت المال دمصرفولو په باره کی شوری کول چی څومره، په چا او چیرته مصرف شی دمامورینو لپاره دی څومره معاشونه تعیین شی، چیرته بندونه، سرکونه اوفابریکی جوړې شی او څرنگه دناروا تصرفاتو اودمال د ضایع کیدو مخه ونیول شی؟

ه: دخلیفه او مشرپه انتخاب، عزل ا سمولوکی رایه ورکړل.

و: په حکومت اودولتی دستگاه اشراف او په کارونواو کړووړویی، اظهارنظرکول.

ز: دنووپیښو او نوومعاملاتو تربحث لاندی نیول او دهغو لپاره دشرعی په چوکات کی اصول او مقررات وضع کول.

ح: داداری نظام او اداری مقرراتو په باره کی شوری کول لکه دولتی تشکیلات، دمامورینو دپستونو او داجیرانو ددرجو تثبیت، څوولایته، څو ولسوالی او..... باید ولرو؟

نوربیا

دانتخاباتو پرځای انتصابات که

دڅوکورینو گډحکومت جوړول

ابوعبدالشافي

په تیروورځوکی چی دافغانستان دموقتی حکومت صدراعظم استادسیاف په افغانستان کی دانتخاباتو کولو دکومې پروگرام اعلان کړیدی ، پرهغی نه یواځی داچی دافغانستان نوی په سلوکی مهاجرینو اومجاهدینو اریانتیاښکاره کړیده بلکه دغه پروگرام ئی له ډیری غوسی سره مستردکړی هم دی داځکه چی پدی کی یی دافغانستان مسلمان ولس دخپل حق داستعمالولو اودشوری لپاره دغړو دټاکلو په خاطر درای ورکولو څخه له یوه سره محروم کړیدی ، دهری ولسوالۍ په سرلسوکسانو داسی وټاکل چی دعبوری حکومت له خوالیزل شوی لس کسیزه هیئت هغوی وټاکی اوبیا هغولسوکسانو ته دااختیارورکول چی له خپلې خوښی سره سم دشوری لپاره غړي وټاکی هغه هم داسی چی دټولوگوندونو کسان دی په مساوی دول شورا ته معرفی کړای شی . داددی حقیقت ښکاروندوی ده چی په موقتی حکومت کی شاملو شپږوتنظیمونو دافغانستان پرمسلمان اومجاهد ولس دشپږوکورنیو دیوه گډحکومت پریکړه کړیده چی په گډه به دافغانستان پرزوریدلی ولس دظاهرشاه په شان دخپلې خوښی داسی حکومت کوی چی ولس ته پرحکومت دتنقیدکولو اجازه هم نه وی او نه به ئی د ولس آه وفریادونوته اهمیت ورکړلای شی داځکه چی کوم کسان چی دشوری لپاره ټاکل کیږی هغه ولس نه بلکی گوند منتخب کړی وی ښکاره خبره ده چی کوم سړی دولس درایو په وسیله نه وی ټاکل شوی نو هغه هیڅکله هم دولس پرکړمونه پوهیری اونه ورته پاملرنه کوی .

دداسی حکومت جوړول چی اعلان ئی په موقتی حکومت کی شاملوشپږوتنظیمونوکړیدی ددی معنی ورکوی چی دیوولسوکلوراهیسی دکفراوالحادسره جنگیدونکی ولس چی په پوره صبراوزغم هرډول قربانی ته غاړه ایښې وه اوروس غوندی سترقوت ئی په شا تمبولی دحکومت دجوړولو څه حتی درای ورکولو اهلیت هم نه لری همداوجه ده چی دوی پخپله خوښه دشوری لپاره غړی انتخابوی اوولس ته درائی ورکولو موقع نه ورکوی چی دخپلې خوښی کسان وټاکی دشپږو تنظیمونومشرانو له فیصلې څخه داسی معلومیږی چی دوی یوځلی بیادافغانستان مجاهداوبیداراولس چی دآزادی په خاطرپنځه لس لکه شهیدان ورکړی دی دغلامی په زنځیروتړی او ورباندی دشپږوکورنیوجوړشوی مرکب حکومت دی دخپلې خوښی فیصلې وکړی اودحکومت په څوکیو دی هره کورنی خپل کسان وټاکی الله دنکړی که چیری

دافغانستان ولس په وخت بیدارنه شي
اوداپروگرام دړي وړي نکړي شک نشته
چي نه خودپنځلسو لکو شهیدانوارمان
پوره کیږي اونه دگونډورنډويتيمانو او
شلو وشوتهو ورځې بنې کیږي بلکې په
دوي باندي به دځوخاندانونو يوه ناروا
حکومت قائم وي چي دافغانستان ټول سه
اوبه په پخپله خوښه دخپل گټي لپاره
استعمالوي دافغانستان توریالي اوويښ
ملت ته پکاردي چي سر له نننه ددي ډول
حکومت مخالفت وکړي اوپرځاي يې دملت
دراي پربنسټ دحکومت
پرجوړولوټينگاروکړي شک نشته چي
دافغانستان مجاهدولس ډيرسترستر
پړاوونه طي کړيدي اواوس يي دکاميابي
په آخري درشل کي گام ايښي دي تاريخ
گواه دي چي خپلچاريو اوجاه طلبوکسانو
هميشه دکاميابي په آخري پړاوکي ولس ته
دوکي ورکړيدي اودهغوي په لاس رسيدلي
ميوه اوثمره ئي پخپله لمن کي اچولي نن که
دافغانستان ولس له فهم اوفراست نه
کاروانخست نوددي امکان شته چي
ددوي قرباني بي ځايه ولاړه شي
اوورباندي داسي يو حکومت راشي چي
دظاهر شاه دخانداني حکومت په ځيروي
البته فرق به دومره وي چي په هغه وخت
کي صرف ديوي کورنی حکومت و اواوس
به پري څوکورني حکومت کوي چي پاي
به يي خورا خطرناکه وي .
دافغانستان دمسلمان ولس لپاره داسي
يوه حکومت ته اړتياده چي هغه دولس په
خوښه جوړشوي وي او په هغه کي دولس
له خوا درايو په وسيله ټاکل شوي غړي
شامل شوي وي مطلب داچي ولس ته
داختيارات ورکړل شي چي کله ئي خوښه
شي حکومت جوړکړي اوچي کله يي خوښه
شي عزل ئي کړي ، ولس دي په حکومت
کي داسي سهيم وي چي درايوپه وسيله
خپل خپل نمايندگان وټاکي ترڅو
دانمايندگان په آينده کي دولس په
وړاندي مسئول وي اوچي کله هم وغواړي
ورسره محاسبه وکړاي شي : حزب
اسلامي چي تل ئي دحق پلوی کړي
داسلام سرلوړي اودافغانستان
دمجاهدولس پوره آزادي اواستقلال ئی
مهم هدف دی په افغانستان کی دراتلونکی
موقت حکومت دجوړولو په باب خپله
انتخاباتی طرح اوپلان دافغانستان
دمجاهدولس پروړاندی ایښی ده چی
یوه طرحه یی دمتناسبی نمایندگی ده
متناسبه نمایندگی دی ته ویل کیږی چی
ملت دافرادو پرځای تنظیمونوته رایه
ورکوی هرگوند چی څومره رایی یوسی په
همغه تناسب خپل نمایندگان شوری ته
معرفی کړی یعنی څوك زیاتی رایی یوسی
زیات نمایندگان او چی لږی رایی یوسی
لږنمایندگان شوری ته لیږلی شی .
دمتناسبی نمایندگی پربنیادانتخاباتوکی
یوه فایده داده چی دجنگ جگړی مخه
نیول کیږی بله فایده داده چی هرمسلمان
افغان ته درایی ورکولوحق حاصلیږی دریمه
فایده داده چی هرگوند ته دامعلومیږی
چی څومره خلك یی ترشاولاردی پدی
ترتیب هریوتنظیم غاړه ایښودوته
مجبوریږی چی خپل قوت اومقبولیت ومنی
اوداونه وائی چی زماتنظیم له ټولو
تنظیمونه زیات ملاتړکوونکی لری
اولاگڼوراړ خ پکی دادی چی ولس
دمتناسبی نمایندگی پربنسټ جوړشوی
حکومت په وړاندی خپل مشکلات پرته
دځه ویری نه مطرح کولی شی اوحکومت
هم دولس پرحقوقو خیټه نشی اچولای
داځکه چی حکومت دولس په وړاندی
محتاج دی که دولس خدمت ونه کړی
اودهغوی مسائل حل نه کړی نو په آینده
انتخاباتو کی هغه گوند ته رایه نه ورکوی
بلکه یوه بل گوندته یی ورکوی ، همدارنگه
دمتناسبی نمایندگی په انتخاباتوکی
دگوندونو ترمنځ موجوده کشمکشونه
ختمیږی چی په نتیجه کی دامن اوامان
فضارامنځ ته کیږی اوولس به یو بل سره
دجنگ اوجگړی نه نجات و ، مومی ،
بیادولس قوت یودبل پرخلاف نه بلکه
دخپل دین او هیواددترقی لپاره وقف
کیږی ، په زوره دکوټاپه ذریعه دحکومت
کولو اونیولو چانسونه اواحتمالات بالکل

باقی په (۸۰) مخ کی

د اسلام د صدر ستر فتوحات

د بدر غزا

ژبارن : عبدالمالك "رحماني"

کله چې د اسلام سترپیغمبر(ص) د قریشو دسردارانو دظلم اوزیاتي په وجه له مکې څخه مدینې ته هجرت وکړ او په مکه کې دقریشو دسردارانو لاس ورلنډ شو، ټول هلې ځلې یې هسې بیځایه لاړې ، نو په نووحربویې پیل وکړ.

دقریشوسردارانو چې کله ولیدل دمدینې خلکو داسلام ستر پیغمبر(ص) ته نه یوازې داچې ځای او پناه ورکړی، بلکې هلته په ډیره تیزې سره اسلام خپریږي ، نوله دې وضعې نه ډیروارخطااو په غصه شول ، دمدینې رئیس عبدالله بن ابی ته یې داسې لیك ولیږه :

« موږته معلومه ده چې تاسې زموږ خلکو ته پناه ورکړیده ، موږسوگندیادووچې یا تاسې هغوی ووژنئ او یایې له ښاره وباسئ اوکه نه نوموږبه په گډه پرتاسې حمله وکړو، تس نس به موکړو او پرښځو به مو قبضه وکړو»

حضرت محمد(ص) چې کله دقریشو ددې لیك نه خبرشونودمدینې دخلکودهغوکسانو ډلې ته یې تشریف یوړ چې دهغه (ص) مخالف واودقریشو دلیك پراساس یې دمسلمانانو پرخلاف فعالیت کاوه ان چې دمسلمانانو پرخلاف جگړې ته هم تیاروو، هغوی ته یې په خطاب کې داسې وفرمایل :

«ستاسې لپاره اوس فقط دوې لارې دي، یاداچې دقریشو داخطارمطابق به له مسلمانانو سره جگړه کوئ او یاداچې دجگړې نه کولوپه صورت کې به دقریشوپه مقابله کې تیاری نیسئ ، خوکه چیری تاسې له مسلمانانو سره جگړه ضروري بولئ. نو یادساتئ چې پدې صورت کې به خپل هغه ورونه اوزامن په خپل لاس ووژنئ چې مسلمانان شویدي اوپرپیوه خدای(ج) ایمان لري ، او که چیرې دقریشو اخطارته اهمیت ورنه کړئ ، نو بیا به مو له پردیو سره مقابله وي»

داسلام دستر پیغمبرددغه ایمان رڼوونکو اودزړه تل ته لویدونکو لارښوونو دخلکو فکرونه بدل کړل اوسره تیت شول.

دقریشو اخطارآمیز خط چې دمدینې ښاریانو ته یې لیکلې وو هغه (ص) ته یې داحساس ورکړچې قریش؛ مسلمانان دلته په مدینه کې هم په ارام نه پریږدي ، په یونه یوشکل خپلو اوربلوونو ته ادامه ورکوي دهمدې خطري په نظرکې نیولو اودمدینې دخلکو د سرومال دساتنې په خاطر هغه (ص) دمهاجرودمدینې دانصارو اوهلته دپرتو یهودیانو ترمنځ یو تړون چې د«میثاق مدینه» په نامه یادیږي. لاسلیك کړ.

دتړون مهم شرطونه په لاندې ډول دي :

-دخون بهااوفدیې پخوانۍ طریقه به

دپخواپه شان جاری وی .

- یهودیان به په مدینه کی هرډول مذهبی آزادی لری ، او په مذهبی چارو اورسمونوبه یی هیڅ ډول اعتراض نه کیږی .

- دیهودیانواومسلمانانوخپل منځی اړیکی به دسوچه دوستی پراساس وی ، که چیری له بهرنه څوک وربانډی حمله وکړی نوپدی صورت کی به دواړه یودبل مرسته کوی .
هیڅ یوطرف به هم دمکی قریشوته امان نه ورکوی .

- که په مدینه باندی څوک حمله وکړی نودواړه ډلی به مداخله (مدافعه) کوی اوپه سوله کی به هم دواړه خواوی شریکی وی .

- دجګړی او اختلاف په صورت کی به حضرت محمد(ص) دثالث په حیث منل کیږی .

دمدینی پرانصاروسربیره دیهودیانو له کومو ډلوسره چی هغه (ص) تړون لاسلیك کړ، دبنونضیر، بنو قریظه او بنوقینقاع ډلی وی . همدا ډلی وی چی دمستقل حیثیت په شکل اوسیدلی په اقتصادی لحاظ دومره قوی وی چی بازاراومنډی ټولی ددوی په قبضه کی وی ، په سوداګری یی ډیراثر درلود، په هرصورت ددی تړون په وجه که له یوی خوا مسلمانانو ته دسرومال تحفظ پیدا شونوله بل پلو داحقیقت هم څرګند شو چی په مدینه کی دمهاجرواوانصارو (مسلمانانو) ډله هم اکثریت ده .

په هغو وختوکی به هرکال دقریشو تجارتی قافلی دمدینی له لاری شام (سوریی) ته تللی . مسلمانان چی دقریشو دشراچونی نه ډیرپه تنګ شوی وو، غوښتل یی چی دغه قافلی له منځه یوسی ترڅو پدی

> دمدیني پرانصاروسربیره
> دیهودیانوله کوموډلوسره چي
> رسول "ص" تړون لاسلیك کړ،
> دبنونضیر، بنوقریظه اوبنو
> قینقاع ډلي وې ، همدا ډلي وې
> چي دمستقل حیثیت په شکل
> اوسیدلي اوپه اقتصادي لحاظ
> ډیري قوي وې

اساس قریش له خپلو شوموسازشونواو شرارتونو څخه لاس واخلی په همدی وجه کله به چی دقریشوقافله دمدینی په لورراتله نو صحابهٔ کرام (رض) به دحضور(ص) په اجازه دقافلو دبندلولپاره ورتلل ، کله کله به دسپورو ستغوحالت هم راتلو خو جګړه نه کیده، په همدی وخت کی دمکی یوسردار« کرزبن جابر» مدینی ته نږدی په یوڅړځای حمله وکړه اودمسلمانانو ډیراوښان اونورحیوانات یی بوتلل. مسلمانان چی له دی پیښی نه خبرشول نوپرهغه پسی ورووتل خو« کرزبن جابر» ډیرلیری تللی وو.

له بل پلوه په همدی ورځوکی حضرت محمد(ص) عبدالله بن جحش داتوتنومهاجرینو سره«نخل» ته چی دمکی او مدینی ترمنځ یوځای دی، ولیږه اویو مهرشوی مکتوب یی ورکړ، لارښوونه یی ورته وکړه چی دغه مکتوب به مولرددوو ورځو سفرورووسته پرانیزی .

عبدالله بن جحش چی دهغه (ص) له هدایت سره سم مکتوب له دووورځوسفرورووسته پرانیست نوداسی پکی لیکل شوی وو: « کله چی زما دغه مکتوب ووینی نو څه ترڅوچی دمکی او طائف ترمنځ (نخلی) ته ورسیږی، نوهلته اوسه اودقریشودحال احوال معلومات واخله اوماته یی اطلاع راکړه »

هلته په همدی وخت کی دقریشو یوتن « عمروبن حضرمی » دخپلو دریو ملګرو په شمول دمال التجاره بارکړی اوښان روان وو، مسلمانانو چی دغه دښمنان ولیدل چی ددوی له لاسه یی خپل وطن پری ایښی وو او اوس هم تری په آرام نه وو، نو دعبدالله بن جحش په مشرتابه یی په عمروبن حضرمی حمله وکړه ، هغه یی مړکړاو بل ملګری یی په تیښته بریالی شو دوه نوریی بیا عبدالله بن جحش له اوښانوسره یوځای مدینی ته راوستل او دحضرت محمد(ص) حضورته یی وړاندی کړل، خو حضرت محمد(ص) په دی پیښه باندی ډیرپه غصه شو اووی فرمایل : ماتاته کله دجنګیدلواجازه درکړی وه . په همدی وجه یی دغنیمت دمال له قبلولو نه هم ډډه وکړه او وییی فرمایل :« عبدالله ! دغه کارتادرجب په میاشت کی کړی ، پداسی حال کی چی پدی میاشت کی جنګیدل حرام دی » په همدی وجه نه

يوازي حضور(ص) دغنيمت له اخستلو نه ډډه وکړه بلکې دقريشو خون بهايي هم اداکړه. خوځرنگه چې قريشوله پخوا دخپلو شوموهيلوترسره کولو لپاره، داسې موقع پلټله اودجگړې لپاره اماده و، نوښه موقع په لاس ورغله . که ځه هم عبدالله

> دمتعددوروایاتوله مخې ۳۱۳ سرېه لاس اصحاب دغزالپاره راووتل ځينې روايتونه داشمير۳۱٤ او۳۱۹ ښيځوكيداي شي دوړکوالي اوناروغې له امله تر۳۱۳ زيات په غزاکې نه وي شامل شوي.

بن جحش دحضرت محمد(ص) له اجازې پرته پرعمروبن حضرمي حمله کړې وه؛ خو قريشو . دهغه په ځواب کې پ سختو تبليغاتو او پروپاگندپيل وکړ . ويل به يې : «محمد(ص) اودهغو ملگرودحرمت مياشتې حلالې کړيدې ، هغوويني تويې کړي ، دغنيمت مال يې لوټ کړي اوزموږکسان يې بنديان کړي». •
کله چې قريشودغه پروپاگند پيل کړنو دالله(ج) له جانبه داوحې نازله شوه :
« په حرامو مياشتوکې دجگړې په هکله له تانه پوښتنه کوي، ورته ووايه دالويه گناه ده .
دخدایځ له لارې نه،بندول ، له هغه نه انکارکول، دمسجدالاحرام نه بندول، دهغه ځای داوسيدونکو شړل له هغې نه ډيره لويه گناه ده او فتنه اچول له جگړې نه هم لويه گناه ده . اې مسلمانانو دغه خلك به تل له تاسې سره جنگيږي ترڅو تاسې له خپل دين نه واړوي» په دغه آيت شريف کې الله تعالی حضرت محمد(ص) ته هدايت وکړ چې هغه کافرانوته چې مسلمانانو ته طعنه ورکوي ووايه، که چيرې مسلمانانودحراموماشتو بې حرمتي کړې او جگړه يې کړې نو تاسې هم لږڅه خپل گريوانه ته سرټيټ کړې او خپل افعال وگورې چې له هغو نه ډيربداولوی دي، دخدای له لارې نه دخلکو بندول، مسجد حرام ته څوك نه پريښودل ، دهغواو سيدونکې فقط پدې جرم له خپل وطن نه ايستل چې اسلام يې قبول کړې اوهمدغسې نورې لويې لويې فتنې ډيرلوی جرم دی نسبت ديوتن وژلو او جنگيدلوته . نودغسې بد عمله او فاسد خلك څه حق لري چې مسلمانانوته طعنه ورکړي .
په هرصورت همدغسې وړې وړې خبرې دبدرد جگړې محرك شول . په دې کال کې قريشو دجنگي تياري له پاره ډيرې جنگي وسلې اوسامانونه هم واخستل، پدې ځل يې چې کومه تجارتي قافله شام ته ليږلې وه ، خپل ټول زوراوتوان يې پرې خرڅ کړی وان تردې چې ښځو هم خپل سره اوسپين دتجارت لپاره ورکړي وو، ددې هدف يوازې داوو چې ددې لويې تجارتي قافلې گټه او سرمايه ټوله په جنگي وسايلو باندې ولگوي او دمسلمانانو په خلاف ځانونه آماده کړي ؛ سربيره پردې دهغو مهاجرومالونه چې مدينې ته دتلو په وخت کې په مکه کې پاتې شوي وهم دجنگي وسايلو دتهيه کولو په لارکې مصرف شول په همدې شپووځوکې يوه لويه تجارتي قافله چې پنځوس زره ديناره مال پکې ودابوسفيان ترمشرتابه لاندې له شام نه بيرته راروانه وه اوابوجهل داسې آوازه اچولې وه چې مسلمانان غواړي دغه قافله لوټ کړي نوراځي دقافلې دساتنې لپاره ځانونه آماده کړي . دغه چال دومره موثروو چې قريشو ډيرپه بيړه يوزرتنه لښکرآماده کړ، چې درې سوه آسونه او اووه سوه اوښان پکې وو.
دغه لښکردابوجهل په قومانده له مکې نه راووت خو څلور پنځه منزله لانه وو تللي چې اطلاع ورته ورسيده چې دابوسفيان قافله په خيريت مکې ته ورسيده. داطلاع په رسيدوسره لښکريانو ابوجهل ته وويل چې اوس بايد بيرته وگرځو ، ابوجهل ورته وويل داخو سمه ده ولې دجشن نمانځنې لپاره پکاردي چې دمدينې ترڅنډوپورې ځانو نه ورسوو . پدې سره به مودشااوخوا په خلکو باندې دزوراو طاقت اغيز پريوزي بيا به له مسلمانانو سره دعهداوتړون لپاره زړه نه ښه کوي .دابوجهل له دغه خبروسره لښکريانوهم توافق وکړ، اودبحرساحل يې پريښود دمدينې په لورې حرکت پيل کړ. په دې لښکرکې دقريشو ډيرلوی اوسترستر سرداران لکه عتبه بن ربيعه ، عباس ، حرث بن عامر، نضربن حارث ، اميه اونورشامل وو، عتبه بن ربيعه چې دقريشو ترټولو لوی اواحترام وړ رئيس

دلښکردسپه سالارپه حیث ټاکل شوی وو.
دلته په مدینه کی چی کله حضرت محمد(ص) دابوجهل دارادو اوسازشونو نه خبرشونو ژرترژره یی اصحاب دجنګی تیاری لپاره تلقین کړل.
دمتعددوروایتونو له مخی ۳۱۳ سرپه لاس اصحاب د غزالپاره راوتلل، ځینی روایتونه دغه شمیر ۳۱٤ ښیئی اوځینی ۳۱۹ خوکیدای شی چی دوړوکتوب اوناروغی له امله له ۳۱۳ څخه زیات په غزاکی نه وی شامل شوی.
دمسلمانانو ډله چی کله آماده شوه نو حضرت محمد(ص) دمهاجرواوانصارو دسردارانو په شوری کی دقریشو دلښکردراتلو خبره وړاندی کړه.
ترهرچاړومبی حضرت ابوبکر(رض) او بیا حضرت عمر(رض) دغه خبره تائیداوملاتړیی اعلان کړ، بیا مقدادبن عمرو انصاری وویل: یارسول الله! کوم حکم چی تاسی ته دالله تعالی له پلوه شوی دهغی لپاره تیارشی، موږدبنی اسرائیلو په شان دانه وایوچی ته او ستاخدای لاړشی اووجنګیږی، موږخونه ځو» په هغه ذات سوګند یادوم چی ته یی په حق او صداقت رالیږلی یی چی موږپخپله خبره کی صادق یو. په دغه تقریر سره دحضور(ص) څیره روښانه شوه، او دانصارولپاره په جګړه کی داړومبی ځل و، حضرت محمد(ص) په وارواردانصارو خو اته مخ اړوه او پوښتنه یی کوله، نو سعدبن معاذعرض وکړ: «ای دخدای رسوله! آیا تاته زموږ درایی ضرورت شته؟په خدای چی موږ ستاتصدیق کوو، اوشهادت ورکووچی څه ته فرمایی هغه په حقه دی. پدی اساس چی تاسی څه اراده لری پرهماغه عمل وکړی»
په هرصورت ددوهم هجری کال دروژی په ۱۲ مه د ۳۱۳ مجاهدینو لښکر له مدینی څخه ووت، پدی لښکرکی فقط اویا او ښان او دری آسان وو، ددریو دریو سپرولپاره یواوښ مقررشوی و، پدی دریوکی به هم یو پلی روان واودوه به سپاره وو.
دحضرت محمد(ص) په سپرلی، حضرت علی کرم الله وجهه او ابو لبابه (رض) شریک وو. خو ابولبابه په لاره کی دمدینی حاکم وټاکل شو.بیرته راغی، په ځای یی

رسول الله "ص" داسې دوعا وکړه:

اي خدایه! داغه دایمان ښتنان دي چې که ته هغوي هلاك کړي نوبیابه دځمکې پرمخ ستاعبادت کوونکي هیڅ پاتي نشي.

حضرت زیدبن حارث شریک شو. نورټول مجاهدین پلی روان وو. لښکر یومیل لاسفرنه ووکړی چی حضرت محمد(ص) یی یو ځل بیا جاج واخیست او ترټولونه دکم عمرځښتنانو ته یی دبیرته تلو وویل. په دی ډله کی یو ماشوم عمیربن ابی وقاص هم شامل و، کله یی چی دبیرته تلو ورته وویل نوبی اختیاره په ژړاشو په همدی خاطرحضرت محمد(ص) نوموړی ته په پوځ کی دشاملیدو اجازه ورکړه.
بدردیوکلی نوم دی چی هرکال پکی میله کیږی، دغه کلی دشام دتجارتی لاری هغه برخی ته لنډپروت چی لاره یی ډیره سخته او لوړی ژوری لری، دغه ځای دمدینی څخه تقریباً۱۲۵ کیلومتره لیری واقع دی.
په هرصورت مسلمانانو ته چی دکوم لوری نه دقریشو دراتلو احوال راورسید نوهماغه پلوته دمسلمانانودوه تنه «بسبسه» او «عدی» ولیږل شول ترڅو دقریشو دپروګرام اونقل وحرکت احوال راوړی.
پدی وخت کی دروژی په ۱۷ مه نیټه قافله بدرته رانږدی شویوه. خبرراوړونکو هم دااطلاع راوړه چی قریش دوادی هاغه بل پلوته رارسیدلی، په همدی وجه حضرت محمد(ص) همدلته دودریدو او دپوځ دځای په ځای کیدو حکم ورکړ.
قریش چی دډیرووسایلو او سامانوسره له مکی نه راوتلی ونوډیرسترستر رئیسان یی هم ورسره وو، دابولهب غوندی خلکو که څه هم ډیره علاقه درلوده چی په داډول جګړه کی خپله کارنامه خلکوته وښیئی، خو دکومی مجبوری په اساس یی په جګړه کی شرکت ونه شو کړای، خو دخپل ځان په نمایندګی یی بل څوك رالیږلی و، دقریشو په نورو مشرانو کی عباس (بن مطلب) عتبه بن ربیعه، حارث بن عامر اوامیه شامل و، دقریشو دی

لښکربه هره ورځ لس لس اوښان حلالول
او په خلکو به یې خوړل .
دجګړې په اړوند چې حضرت محمد(ص)
کوم ځای انتخاب کړی و، دهغې په هکله
حضرت حُباب بن منذرله حضرت
محمد(ص) نه پوښتنه وکړه « یارسول الله
دغه ځای چې تاسې انتخاب کړی
دادوحې په اساس دی او که دپوځي
تکتیك له امله ؛ کله چې حضور(ص)
وفرمایل چې دوحې په اساس نه دی
نوحضرت حباب (رض) ورته وویل :
آیاداغوره نه ده چې وړاندې ولاړ شو او
په هغه چینه قبضه وکړو او شاوخوا خاګان
یې هم له منځه یوسو»
رسول(ص) دغه مشوره ډیره خوښه کړه
او عمل یې پرې وکړ. مسلمانان چې
دکفارو په مقابله کې کوم ځای انتخاب
کړی و، هلته ډیرریګ و او پښې په ځمکه
کې غرقیدې ، او به هم نه وې ، خو الله
تعالی په دې ورځ داسې سخت باران
واوراوه چې ریګ سخت شو، اومسلمانانو
ریګ راوکیندلو ډیرې اوبه یې راوایستې ،
له بل پلوه دتیز باران او تالندې له امله
دقریشو دلښکرټول شان اودبدبه په
خاورولړل شوه خیمې او سامان یې
خراب شول ، ځکه هغوی په داسې ځمکه
اړول وو چې دباران په وجه سختې خټې
او چیکړې شوې .
دلښکر په شاکې دحضور(ص) لپاره په
یوه لوړه غونډۍ څپره جوړه شوه،
ترڅوددې لوړځای نه ددواړو لښکرو
دجګړې حالت وکتلای شي ، یوازې
حضرت ابوبکرصدیق (رض) د
حضور(ص) سره په څپره کې موجود و، او
وظیفه یې هم دحضرت محمد(ص)خدمت
کول و دخپل لښکرپه هکله هغه (ص) ته
احوال ورکول اولښکرته دحضرت محمد(ص)
نوې اوتازه احکام رارسول و. ګواګې ،
حضرت محمد(ص) ددې پوځ سترسپه
سالاراوصدیق اکبر(رض) یې کنترولر وو
پدې وخت کې دانصاروسردارسعدبن معاذ
حضرت محمد(ص) ته عرض وکړ:« ای
دخدای رسوله (ص) آیا دابه غوره نه
وي چې دپوځ ترشا ستاسپرلي هروخت
موجوده وي ، ځکه خدای نخواسته که
چیرې اسلامي لښکرماتې وخوړې ،
اوښموږټول په خاورواوویښوولړل شو
نوتاسې به په موقع سره مدینې ته ځان
ورسوی ، هلته چې تراوسه ستاسې
فداکاران موجوددی او دوسلو دنشتوالي
په وجه په غزاکې نه دی شریك شوی»
ددې خبروپه اوریدو سره پیغمبر(ع)
مسکی شو دآسمان لورته یې وکتل او
دسعدبن معاذ په حق کې یې
دخیردعاوکړه .
دجګړې نه یوه ورځ وړاندې پیغمبر(ع)
دجګړې دمیدان نقشه وکتله ، صحابه کرام
هم ورسره ملګرې و، هغه (ص) به دمیدان
په ځای ځای کې دریده اوفرمایل به یې،
سبابه دلته دفلانی کافر لاش پروت وي او
دلته به فلانی کافرجهنم ته ولیږل شي ،
رسول (ص) دقریشودټولو سرردارانو
نومونه یادکړل .
ددوهم هجری کال دروژې په اولسمه
دجمعې په ورځ صفونه منظم شول ،
پیغمبر(ع) دصفونو دنظم لپاره راغی په
لاس کې یې یوه نازکه چاړه وه ،
یوانصاری یې په خیټه کې په چاړه ټوخ
کړاوویې وفرمایل « سم شه » هغه وویل

دخداي له لارې نه بندول ،
مسجدالحرام ته څوك نه پرېښودل
دهغه اوسيدونكي فقط پدې جرم
له خپل وطن نه ايستل چې اسلام
يې قبول كړي اوفتنه اچول
ډيرلوى جرم دى نسبت ديوه
سړي وژلوته

یارسول الله له دی نه ماته ډیرتکلیف
ورسید، تاسې دعدل اوانصاف پیغام
رسوونکی یی، زه خوبدله اخلم ، حضرت
محمد(ص) وفرمایل دیر ښه ، دایی وویل
او له خیټې نه یې کمیس پورته کړ، نوهغه
انصاري فوراًراوړاندې شو دهغه (ص)
خیټه یې ښکل کړه .
محمد(ص) پوښتنه وکړه« داولې ؟» هغه
وویل : ای دخدای(ج) رسوله داآخری
لحظې دی ، زه هیله لرم چې په جګړه
کې شهیدشم ، زړه مې غوښتل چې پدې

شرف هم مشرف شم ، په همدی خاطرمی ستاسی مبارك خیتهښکل کړه ، پیغمبر (ص) دهغه په حق کی هم دخیردعاوکړه ، له دی وروسته رسول (ص) دغه دعاوکړه:

« ای خدایه ! داهغه دایمان ښمنان دی چی که ته هغوی هلاك کړی ، نو بیا به دځمکی پرمخ ستاعبادت کوونکی هیڅ پاتی نشی » وروسته بیا هغه (ص) ددښمن دپوځ لورته وکتل او په پاکه ژبه یی وفرمایل» الهی داهغه قریش دی چی دفخراوکبرنه ډك دی ، ستا نافرمانه او ستا له رسول(ص) سره جنګیدونکی .ای خدایه اوس ستا نصرت اومرستی ته ضرورت دی ، کوم چی تایی وعده فرمایلی »

له دی دعاګانو وروسته حضرت محمد(ص) عریش ته داخل شو او ددوه رکعتولمونځ نیت یی وکړ ، حضرت ابوبکرصدیق (رض) په بربنډه توره پیره کوله ، دلمانځه په وخت کی حضرت محمد(ص) دغه دعاولوسته .

« الهی ماله پښیمانتیانه وساته ، یاالله تاته دآخرحل لپاره ستاوعده دریادوم » بیاهغه (ص) یوه ډیره اوږده سجده وکړه په سجده کی یی « یاحی یاقیوم برحمتك استغیث » لوستل ، له سجدی نه وروسته یی هم اوږده دعاوکړه، پدی وخت کی دهغه (ص) له اوږونه څادرهم پریوت دحضور(ص) دابتهال حالت زیاتیده ترڅو رموسنی غوندی حالت پری راغی ، بل پلوته دټول اسلامی لښکرسترګی هم درسول (ص) لورته وی ، وروسته هغه (ص) سترګی وغړولی او وی فرمایل :

« ابوبکره! تاته زیری درکوم ، دخدای (ج) نصرت دارسیدلی ، جبریل هم راغلی دی . په همدی شان کله چی اسلامی لښکرسترګی وغړولی او ددښمن لورته یی وکتل نو دهغه شمیر ډیرلږ معلومیده اومسلمانان ډیرزیات ښکاریدل ، دغه معجزی دمسلمانانو حوصله ډیره لوړه کړه ، حضرت محمد(ص) راپاڅید. او دپوځ خواته یی تشریف راوړ، پوځ ته یی هدایت ورکړچی پرخپل ځای ثابت قدم اوسی .

بل پلوته چی کله عتبه بن ربیعه بن مناف دخپل پوځ په وړاندی وینا کوله ، دهغه په لیدلوسره حضرت محمد(ص) وفرمایل په قوم کی دغه سړی عقلمنددی ، که چیری خلکو دده خبره ومنله نو پخپله لاره به روان شی .

عتبه خپل پوځ ته وویل :

« ای قریشو! دمحمد(ص) سره جګړه کول هیڅ ګټه نلری ، که تاسی بری هم ترلاسه کړی نوځه به وشی ، له خپلوورونو ځخه به مو دتل لپاره سترګی پټی شی ، کوم دتره زوی ، دماماروی به ووژنی ، یابه دخپلی قبیلی سړی په قتل ورسوی، نوبیرته وګرځی ، عرب به پخپله له محمد(ص) سره فیصله کوی ، که کومه قبیله پرهغه باندی غالبه شی نوستاسی مقصد به هم پوره شی او که بریالی هم نه شی نو تاسی خو به له ندامت نه خلاص وی .»

عتبه چی خپل پیغام کله ابوجهل ته ولیږه نوابوجهل عامربن حضرمی راوغوښت ورته وویل « وګوره داعتبه ستادښمن دی ، او غواړی تادخپل وروړله انتقام نه محروم کړی ، وجه یی هم داده چی دهغه زوی دمسلمانانو په طرف دی ، نواوس تاته پکاردی چی زیاروباسی او پوځ دجګړی لپاره آماده کړی . په همدی خاطر کله چی عامربن حضرمی دلښکر په منځ کی دخپل ورورددانتقام خبره وکړه نو پوځ هم په احساساتو راغی .

اوس دجګړی ډګرجوړشوی او دواړه پوځونه یودبل په وړاندی ولاړو و، داهغه حالت اووخت ووچی هروخت دښمن دمقابل لوری میدان ترغورلاندی نیسی خصوصاً چی کله دښمن پروسایلوسربیره دری چنده زیات هم وی .

په همدی وخت کی چی جګړه پیل کیده دوه صحابیان حضرت حذیفه (رض) بن الیمان اوحضرت حیسل (رض) له مکی نه راروان و، او کفاروپه لارکی درولی وو چی تاسی دمحمددمرستی لپاره ځی خودوی ورته په جګړه کی دنه ګډون وعده ورکړیوه . کله چی همداصحابیان راورسیدل ټوله قصه یی بیان کړه او په جګړه کی یی دګډون کولو هیله وکړه، خوحضرت محمد(ص) ورته وفرمایل :« دوعدی پوره کول په هرصورت کی مقدم دی ، مون صرف دخدای مرسته غواړو»

په هرحال سبا شو، رسول (ص) دغزالپاره تیاری پیل کړ ، مؤرخین وایی چی دمحمد(ص) سره یو غشی و او دهغه په اشاره به یی صفونه برابرول ، هغه (ص)

پداسې شکل صفونه برابرول اولارښوونه یې کوله چې په ټول صف کې هم څوک وړاندې یا وروسته نشي. عموماً چې یوځای دجګړې لپاره لښکرراوتلې وې شوراو غالمغال زیات وي، خو حضرت محمد(ص) اسلامي لښکرله شوراوغالمغال نه منع کړې وه ویلیې چې دهیچاله خولې باید غږونه وزي .

قرآن عظیم الشان ددغو دواړو ډلو مختلف کیفیت دحق او باطل نښانه بولي او په لنډوټکو کې فرمایي:« بې شکه چې ستاسې لپاره په دې دووډلو کې یوه نښانه ده، یوه ډله دخدای په لارکې جنګیږي او بله ډله کافران دي » (ال عمران - ۱۰)

اوس دحق اوباطل جګړه پیلیدونکې وه اودایمان رڼا دکفرپرتیارو غالبیدونکې، اسلام دکفرپرخلاف جهاداعلان کړی و، په دومره لویه نړۍ کې دتوحید په برخه فقط څوکسان و، دقریشو اومسلمانانو پوځونه بیخي یودبل مخامخ ولاړو، خو اوس هم داسلام ستر پیغمبر(ص) هڅه کوله چې لزترلزه باید شروع زموږ له خوا ځخه نه وي، نو په همدې خاطریې صحابه (رض) له وړاندې تګ نه منع کړل ویې فرمایل کله چې دښمن راوړاندې شونو په غشویې منع کړي .

دغه جګړه په دې خاطرهم دتعجب وړ اوځانګړې وه چې چیرته پلاردکفردلښکرپه ګټ په اسلامي لښکرکې دشامل زوی پرخلاف توره راالخستې وه او چیرته هم مسلمان زوی دکفردلښکرې پلارپه مقابله کې په جهادبوخت وو، دخلکو دزړه ټوټې دتورو رحم وکرم ته پریښودل شوې . دوینې رنګ یو وخوجذبه او احساس جلا اومختلف څوک دبتانو دماتولو لپاره میدان ته راوتلي و او چادبت پرستي په ملاتړ توره راالخیستې وه . دحضرت ابوبکر(رض) زوی چې کله دجګړې ډګر ته راداخل شو نو هغه توریې هم کمه شوه، دقریشو دپوځ عتبه چې کله میدان ته راووت نو حضرت حذیفه (رض) یې مقابل ته وروړاندې شو، همداراز دحضرت عمر(رض) توری دماماپه وینو تنده ماته کړه .

دهغه وخت دعربو دورو چې کله به جنګونه پیل کیدل نو نومیالي سپه سالاران یاسرداران به دکوم ځانګړی نښان سره میدان ته راوتل ترڅو هغه وپیژندل شي، لهذا کله چې عتبه میدان ته راووت نو په سینه یې دشترمرغ بڼکه (پر) ټومبلې وه، په مقابل کې دمسلمانانو له پوځ نه حضرت عوف (رض) حضرت معاذ(رض) اوحضرت عبدالله بن رواحه میدان ته راوړاندې شول، عتبه له مقابلې ځخه مخکې دهغوی دنومونو پوښتنه وکړه، کله چې هغه ته وروښودل شول چې هغوی انصاردي نو هغه حضرت محمد(ص) ته په خطاب کې په چیغه وویل:

« ای محمده (ص)! داخلك زما سیالان نه دي ، کوم بل زما مقابلې ته راولیږه » .

رسول (ص) هغوی ته دبیرته ګرځیدوهدایت وکړ، وروسته حضرت حمزه (رض) حضرت علي (رض) اوحضرت عبیده میدان ته راوتلل ، هغو درې واړو (رض) خپلې ځیرې پټې کړې وې، او پیژندل یې ډیرګران و، نو عتبه ددې درې واړو دنامه پوښتنه هم وکړه او بیاکله چې هغه ته وروښودل شول ، نوعتبه وویل ، هو! سمه ده ، داخلك زما سیالان دي، له دوی سره مقابله ماته منظوره ده ، له همدې سره سم عتبه په ډیره بیړه اوچالاکۍ پرحضرت حمزه(رض) حمله وکړه ، خو په بله لحظه کې د حضرت حمزه توره دهغه ترزړه ووتله او عتبه راپریوت .

حضرت علي (رض) هم له یووارسره دولید کارتمام کړ، خو دعتبه وروړشیبه حضرت عبیده (رض) زخمي کړاو که یې نورزیات وارونه پرې کړې وای نو هغه به یې شهید کړې و، خو حضرت علي (رض) په یووارسره شیبه هم جهنم ته ولیږه او حضرت عبیده یې په ټپي حالت په اوږودپیغمبر(ع) حضورته راوړ. حضرت عبیده په زخمي حالت کې په ډیرغم او افسوس سره وویل :« ای دالله رسوله آیازه دشهادت له رتبې نه محروم شوم، حضرت محمد(ص) یې په ځواب کې وویل : بیشکه چې تاشهادت وګاټه » .

نوربیا

اسلام واوضاع سياسي ما

نوشته : شهید عبدالقادرعوده

پیوسته به گذشته

مترجم : احمدسیر "مهجور"

خلافت درزمین :

بشرخلافت زمین رابعهده دارد :

خداوندمتعال بشررااززمین بیافرید، وآنان راعمران گران زمین قرارداد. چنانچه می فرماید :

« هوالذی انشاء کم من الارض واستعمرکم فیها» (هود ـ ٦١)

یعنی اوتعالی ذاتیست که بیافریدشمارا اززمین (ازخاك ویا ازاجزاء وترکیبات زمین) وشمارا(بعنوان) اعمارکنندگان درآن قرارداد.

اگر مابگوییم که بشر درزمین به صفت یك اعمارکننده موقعیت دارد سخن مادرست است ، زیرا زمین باآنچه که درنهاد خود دارد به اراده ومشیت خداوند(ج) دراختیاروتسخیرانسان است ، وحقوق ومسئولیت های انسان راخدای تحدیدمیداردکه اورادرزمین به صفت عمرا نگرقرارداده وبه اوحق تسلط وسیطره راعنایت نموده است ، مگرترجیح می دهیم که انسان رابه عنوان خلیفه وصف کنیم ، صفتی که خداوند(ج) خودش انسان را چندین باربه آن وصف نموده است .

قرآن عظیم الشان به صراحت بیان میدارد. که خداوند(ج) ابوالبشر آدم علیه السلام رابیافرید، تادرزمین خلافت کند. چنانچه می فرماید :

« واذقال ربك للملائکه انی جاعل فی الارض خلیفه قالواأتجعل فیها من یفسد فیهاویسفك الدماء ونحن نسبح بحمدك ونقدس لك قال انی اعلم مالاتعلمون » (البقره ـ ٣٠)

یعنی: ویادکن زمانی را چون گفت پروردگارتوبه فرشتگان که من آفریننده ام درزمین جانشینی را، گفتند : آیامی آفرینی درزمین کسی راکه درآن تباهی کند وخونریزی کند وماتسبیح می کنیم به حمدتو وبه پاکی یادمی کنیم برای تو، (خداوند«ج») فرمود : یقیناًمن میدانم آنچه راکه شمانمی دانید.

مفسرین درماهیت آدم ها اختلاف نظردارند، برخی از ایشان برین نظراند، که آدم ها جانشین وياخليفه جنس سابق شان اند که درزمین زندگی می کردند، ودرآن فساد وتباهی کردند، وخونریزی نمودند، پس جانشینی ویاخلافت طبق این نظریه خلافت ازجنس سابق شان است .

وبرخی دیگربرین نظریه اند، که انسان جانشین ویاخلیفه جنس سابق خودنبوده ، بلکه جانشین ویاخلیفه خدا(ج) درزمین است . وخداوند(ج) انسان رابرزمین مسلط ساخت تاسنت های الهی رابرزمین اقامه ببخشد. ومظهرعجائب آفرینش ، اسرارخلقت . بدایع حکمت اش ومنافع احکام اش باشد، ولی دردنباله بحث خود خواهیم دریافت که این اختلافات اهمیتی

به بحث ماندارد.
خلافت بشر مقیدبه شروط است :
درین هیچ شک وتردیدی نیست که خداوند(ج) هنگامیکه بشررادرزمین جای داد. براوواجب ولازم گردانید تااز اوامر خدا(ج) اطاعت وازنواهی اش اجتناب ورزد. وازهمان روزاول ازبشرتعهد گرفت که بجز ازخدا(ج) هیچ چیزی دیگری راعبادت نمی کند، وبجز از وی (ج) ازهیچ کسی نمی ترسد، وبه لباس تقوی وپرهیزگاری آراسته می باشد واز فتنه وآشوب شیطان حذرمی کند. وبرایش آموختاند که هرکسی پیروی ومتابعت هدایت خداوندی راکرد. راهیاب می شود، وهرکسی به آیات خداوندی کفر ورزید وپیامبران خدا(ج) راتکذیب کرد، یقیناً به بیراهه وگمراهی رفته است.
پاداش خداوند برای راهیاب شده گان امن وآرامش بوده که هیچ ترس وخوفی به آنهاراه نمی یابدونه اندوهگین می شوند. وبرای کافران درغگو آتش دوزخ درانتظارشان بوده که جهنم جایگاه جاویدان شان است چنانچه می فرماید:
«قلنا اهبطوا منها جمیعاً فامایاتینکم منی هدی فمن تبع هدای فلا خوف علیهم

خداوند"ج" انسان را برزمین مسلط ساخت تاسنت های الهی را برزمین اقامه ببخشد

ولاهم یحزنون. والذین کفروا وکذبوا بآیاتنا اولئك اصحاب النارهم فیها خالدون»
یعنی : ماگفتیم فرود آیید از انجاهمه شما، پس اگر برسد برای شما ازمن هدایتی، پس هرکه پیروی کرد هدایت مرا، هیچ ترسی نیست برایشان ونه ایشان اندوهگین می شوند. وآنانیکه کفرورزیدندوتکذیب نمودند آیات مارا، ایشان اند باشندگان دوزخ، وایشان درآنجاجاویدان اند.
همچنان می فرماید:
« قال اهبطوا بعضکم لبعض عدوولکم فی الارض مستقرومتاع الی حین، قال فیهاتحیون وفیها تموتون ومنهاتخرجون. یابنی آدم قدانزلنا علیکم لباساً یواری سواتکم وریشا ولباس التقوی ذلك خیر، ذلك من آیات الله لعلهم یذکرون، یابنی آدم لایفتننکم الشیطان کما اخرج ابویکم من الجنه ینزع عنهما لباسهما لیریهما سوء اتهما انه یراکم هو وقبیله من حیث لاترونهم، انا جعلنا الشیاطین اولیاء الذین لایومنون. واذافعلوا فاحشه قالوا وجدنا علیهاآباء ناوالله امرنابها، قل ان الله لایامر بالفحشاء اتقولون علی الله مالاتعلمون. قل امر ربی بالقسط واقیموا وجوهکم عند کل مسجد وادعوه مخلصین له الدین کما بداکم تعودون، فریقاً هدی وفریقاً حق علیهم الضلاله انهم اتخذواالشیاطین اولیاء من دون الله ویحسبون انهم مهتدون»
(اعراف _ ٢٤ _ ٣٠)
یعنی :
(خداوند) فرمود: فرودآیید، بعض شما برای بعض شما دشمن خواهدبود وبرای شما درزمین استقراروبهره مندی باشد تایك وقت معین خداوند(ج) گفت شما درزمین زندگانی خواهیدکرد ودرآن خواهید مرد. وازآنجا بیرون آورده می شوید، ای فرزندان آدم یقیناً ماناز لکردیم برشما لباس که شرمگاه شمارا بپوشاند، وفرودآوردیم جامه های زینت ولباس پرهیزگاری که آن ازهمه بهتراست این از نشانه های خداوند(ج) است، تاایشان پند پذیرشوند.

ای فرزندان آدم (ع) شیطان شماراگمراه نکند، چنانچه پدرومادرتان راازبهشت بیرون آورد. جامه های شان را برکشید تا شرمگاه هایشان نمایان شود، هرآینه شیطان ودودمان اش شمارا می بیند درحالیکه شما ایشانرا نمی بینید. یقیناً ما کسانی را که ایمان ندارند اولیاء شیطان ساختیم، واولیاء کسانیکه کارهای ناپسندیده وزشت می کنند، وگویندکه مادرین کارپدران خودرایافتیم، وخداوند(ج) مارا به آن فرموده است. بگوهرآینه که خداوند کسی رابکارزشت وناپسندیده امرنمی کند. آیا برخداآنچه

مى گوئيدكه نميدانيد، بگو : يقيناً پروردگارم به قسط و انصاف امرنموده است ، وفرموده است كه روى خودرا درهرنماز بسوى كعبه) گردانيد، واورا پرستش كنيدوخاص اوراعبادت كنيد، چنانچه شمارا آفريده بود، باردیگر گردانيده مى شويد، گروهى راهياب شد، وبرگروهى گمراهى وضلالت سيطره يافت ، (زيرا) يقيناً ايشان شيطان را بجاى خدا(ج) براى خوددوست گرفتندومى پنداشتند كه ايشان راهياب شده گان اند) .

خداوند متعال براى هدايت بشر همه زمينه هارا مساعد ساخت ، فردا درروزرستاخيز خداوند(ج) باهمه كسانيكه گمراه شده اند وبه بيراهه رفته اند، از اوامرالهى اطاعت نكرده اند، وازشيطان پيروى نموده اند، محاسبه مى كند، واز آنهامى پرسد، مگركافران درآن هنگام هيچ دليل وبرهانى ندارند تاپاسخ پروردگارخود بگويند. سپس گروه گروه ازايشان درآتش دوزخ افگنده مى شوند. وجزاى همه اعمال كه دردنيا اعم ازگناهان كه مرتكب آن شدند، وآياتى خداوند راكفر ورزيدند، وبا پيمان وعهدى كه باخداى خودبسته بودند خيانت كردند، مى چشند.

چنانچه مى فرمايد :

« الم اعهداليكم يا بنى آدم ان لا تعبدو ا الشيطان انه لكم عدومبين ، وان اعبدونى هذا صراط مستقيم ، ولقداضل منكم جبلاً كثرا، افلم تكونوا تعقلون ، هذه جهنم التى كنتم توعدون ، اصلوها اليوم بما كنتم تكفرون » (يس _ ٦١ _ ٦٥)

يعنى : آيامن از شما تعهد نگرفته بودم . اى فرزندان آدم ! كه نمى پرستيدشيطان را، ويقيناً شيطان براى شما دشمن آشكاراست وآنكه مرا بپرستيد، اين است راه راست ، وهرآينه شيطان خلق بسيار از قوم شمارا گمراه ساخت ، آيا نمى دانستيد (خردمندان نبوديد)، اين همان دوزخيست كه به شما وعده داده مى شد داخل شويد درآن (دوزخ) امروزبه سبب كفر ورزيدن تان .

ادامه دارد

پاتي

دانتخاباتوپرځاى انتصابات

ختميزى او پرځاى داسى يورواج قائميزى چى دولس دانتخاباتو نه پرته هسى خوك هم حكومت كولوته نه چمتوكيزى لدى كبله پكاردى چى دافغانستان مسلمان ولس ددين هيواداودولس دښيگڼى اوګټى په خاطر په عامو انتخاباتو زورواچوى اوپه عبورى حكومت كى رشتامل شپږوتنظيمونومشران دى ته مجبوركړى چى دافغانستان پرمسلمان ولس اعتماد وكړى اوولس ته اختياروركړى چى پخپله خوښه دانتخاباتو په نتيجه كى دحكومت مشران وټاكى ، ځكه چى لدى نه پرته په افغانستان كى امن اوامان اوهوسا ينه نه شى راتلاى .

★ ٧٨٦ ★
S. Enayatullah Naveed
★ سيد عنايت الله ((نويد)) ★
★ Date: ....

توبه قهقرا برفتی

سید یعقوب فاروق طالع

چه شدای ستمگردون ، که زملك مابرفتی
زتوپرسم ای جفاجو، زچه ؟ وچرا؟ برفتی !
توبیامدی درین جا، به هجوم وحشیانه
توبدیدی قدرت حق ، که زضرب ما، برفتی !
توکه اعتمادکردی ، به سپاه ولشکرسربن
بهمه سلاح وابزار، هدفت خطا،برفتی !
توغرورمنددنیا، همه سربلندبودی
کمرت شکست آخر، به قددوتابرفتی !
توکه همچوخرس پرزور، بهمه طرف دویدی
بزمین رسید پوزت ، چوشکسته پابرفتی !
توکه ازپی غلامان ، به امید پانهادی
به هزارهاندامت ، توچه بینوا برفتی !
توبنام دوستی ها، چه فسادهانمودی
نشدت مرام حاصل به فسانه هابرفتی !
همه جنگ وکینه ازتو، همه مکروفتنه ازتو
همه دادی ملت ماتوبخون شنا، برفتی !
توبدیدی شیرمردان ، بخدای تن سپردند
همگی قیام کردند به صف صفا، برفتی !
همه خیل تنگدستان ، به تبربه بیل وباچوب
به توهیچ تن ندادند ، یخنت قبا، برفتی !
همگی کنند نفرین ، به تووبه مسلك تو
به امید پیش رفتن ، همه برقفا، برفتی !
توکزان دمی که اینجا، بنهادی گام ننگین
بنمودی چوروغارت همه چیزما، برفتی !
بتونیست آبرویی، پس ازین بهیچ رویی
زوجودخویش بگذر، توبه قهقرا برفتی !
توببندرخت هستی ، که تراست ره به گیتی
به توآبروهمین بس ، که زآسیا برفتی !
همه آذری وتاجك ، ترکمن قزاق وازبك
قرغزوتتاروارمن بشودرها، برفتی !
تومکن امید دیگر ، بودت شکوه وهم فر
بتونیست بخت یاور، تواگرزجابرفتی !
تونه بینی روزخوبی، چوروی به مسکوت هم
نه گذاردت مجاهد، توبه هرکجا برفتی !
همه فسون ونیرنگ ، همه ظلم ونحوه جنگ
بنمود طالع افشاء ، توگریزپابرفتی !

صفحة مفقودة